برادرحکمتیارباعضاي شوراي ولایتي حزب اسلامي ننگرهار دیدارنمود

جلال اباد ۳ سنبله

برادرمجاهد انجنیر حکمتیار صدراعظم کشوروامیرحزب اسلامي افغانستان امروز حوالي عصر باقوماندانها واعضاي شوراي ولایت حزب اسلامي درکلوپ قول اردو دیداروگفتگونمودند .

درین جلسه امیرحزب اسلامي وصدراعظم کشوردرارتباط به مسافرت رسمي شان به کشورهاي پاکستان ،ایران وسعودي به اعضاي شوراي ولایتي ننگرهار معلومات داده بعد در امورمربوط حزب اسلامي به اعضاي شوراهدایاتي راارائه نمودند.جلسه تاپایان نماز عصرادامه داشت.

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(۸) صفحه

دافغانستان داسلامي دولت محترم صدراعظم جلال آباد ته راورسید

جلال آباد : دسنبلي ۳

دافغانستان داسلامي دولت محترم صدراعظم وروور حکمتیار له لس ورځني بهرني سفرڅخه وروسته چي دپاکستان ،ایران اوسعودي عربستان وروټو هیوادونو ته یي درلود دسه شنبي په ورځ په خیرسره جلال اباد ته راورسید.

دخبر له مخي وروورحکمتیاربرون له غرمي وروسته له پیښورڅخه دتورخم په لورروانشو ۳:۳۰ بجي پداسي حال کي تورخم ته راورسید چي په لسګونو موټرونو یي بدرګه کوله ،په تورخم کي دپاکستان سرحدي ساتونکو وروورحکمتیارته رسمي قطعه تقدیم کړه چي وروورحکمتیاریې سلامي واخسته.

په خبرکي زیاته شوي دتورخم څخه به را اوړیدو دننګرهارولایت دجهادي شوري درئیس ،غړو اومسؤلینو له خواورته تودهرکلي وویل شو اوپه سرحدکي ورته قطعه تقدیم شوه.

دبویل خبر له مخي وروورحکمتیار دمازدیګر په شپږو بجو دجلال آباد ښارته راورسید.

شماره مسلسل ۶۷۷ سال شانزدهم شماره (۶۵) پنجشنبه ٤ سنبله ۱۳۷۲ هـ.ش (۹) ربیع الاول ۱٤۱٤ هـ.ق (۲٦) اگست ۱۹۹۳ م

قیمت یك کلدار یا پنجاه افغاني

برادرحکمتیارصدراعظم دولت اسلامي افغانستان درصحبت اختصاصي باتیم مطبوعاتي روزنامه شهادت:

اگرهمه‌نیروهاصادقانه درزمینهٔ برگزاری انتخابات همکاری کنند،امنیت تامین میشود

که موږپه وسیع پیمانه دافغانستان دبیا ودانولوکار پیل کړو، داخپله په امنیتي وضعیت باندي ښه تاثیرلري

که دي خلکوته موږابرومندانه کسب وکارمهیاکړو داخپله دجنګ عوامل له منځه وړي

عودت مهاجرین به کشورشان داوطلبانه،طبق نورمهاي ملل متحد ،بدون اجباروفشارصورت خواهدگرفت

ننگرهار ۳ سنبله :

برادربزرگوارانجنیر صاحب حکمتیارامیرحزب اسلامي وصدراعظم دولت اسلامي افغانستان ، بعد از انجام مسافرت رسمي شان به کشور هاي برادر پاکستان ، ایران وعربستان مع الخیر بداخل کشورتشریف آوردند . مدیرمسؤل وبرخي ازاعضاي هیئت تحریر شهادت ،براي کسب معلومات ازنتایج سفربرادرحکمتیار حوالي ساعت ده قبل ازظهر روزچهارشنبه سوم سنبله درکلوپ قول اردوي ننگرهاردیداري باامیربزرگوار حزب اسلامي داشتند که اینك حاصل این صحبت هاراازنظر شمامیگذرانیم:

برادرحکمتیاردیدوصحبت ازنتایج سفرشان به سه کشوردوست اظهاررضایت نموده فرمودند :

چنانچه اطلاع دارید، این سفر براساس دعوت رسمي سه کشوربرادر پاکستان ،ایران وسعودي صورت گرفت . استقبال درین سه کشور خیلي گرم و دوستانه بود وصحبت هاي خیلي مفصلي بامسؤلین درجه یك هرسه کشور انجام

ص ٦

دهیواد صدراعظم وروړحکمتیاردننګرهارولایت له جهادی شوری سره وکتل

جلال آباد دسنبلي ۳

نن دچهارشنبي ورځ دسهارپه لسو بجو دافغانستان د اسلامي دولت صدراعظم وروورحکمتیار دننګرهار ولایت په قصرکي ددغه ولایت له جهادي شوري سره کتنه وکړه .

په دغه کتنه کي دننګرهار په والي سربیره دجهادي شوري غړو اود مختلفوریاستونو مسؤلینو اوقوماندانانو برخه درلوده .غونډه له روغبړوروسته په یولسو بجو دمحترم قاري صاحب طیب له خوا دقرآنکریم په تلاوت سره پیل شوه ، وروسته دهیوادمحترم صدراعظم دننګرهارشوري له کاروایي څخه منته څرګنده کړه ویي ویل موږ داشوري تاییدوو اوهیله لروچي په ټولو ولایاتوکي داسي شوري ګاني چي دمجاهدینو دوحدت ممثلي وي جوړي شي . هغه زیاته کړه تاسي بدي خاطر هم دتقدیر وړیاست چي ددښمن ټولي توطیي موشندي کړي اودخپل وحدت په برکت موږپه ټول افغانستان کي ښه نمونه اوروول اداکړیدي. وروورحکمتیاروویل موږپه کابینه کي هم دافیصله کړي چي دافغانستان ټولي اداري ،علاقداري

(۷)مخ

دکابل ښاراکثره ښوونځي یوځل بیاپیل شوي

کابل

له کابل ښارڅخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي نن ورځ دکابل ښارنوي رنګ غوره کړي اوپه واتونواوښوونځیوکي ګڼه ګونه ډیره زیاته وه ځکه چي له ډیري مودي راهیسي دلومړي ځل لپاره ښوونځي پرانستل شویدي .

خبریال لیکي چي که څه هم ځیوني اوهلکان پداسي حال کي چي کتابونه یي په لاس کي وو دښوونځیوپه لورروان ووخوښاهم ډیر خوښ نه ښکاریدل ځکه چي لاتراوسه هم له یوي خواپه پوره توګه دکابل وضع مطمئنه نه ده اوله بل پلوه اکثرښوونځي دمختلفو ډلواوسله والوګروپونو اویامهاجروکورنیو له خوااشغال شوي اومتعلمین مجبوردي چي دښوونځي په صحن اومیداني کي دازموینې اودرس له پاره کښیني .

خبریال لیکي چي اکثروشاګردانو غوښتنه کوله چي باید ژرترژره وسله وال ګروپونه له ښارڅخه اوله ښوونځیوڅخه ووځي اودمهاجرولپاره هم بندوبست وشي .

امریکاپاکستان ته خبرداري ورکړي چي په کشمیري مبارزینوخپلي مرستي بندي کړي

تهران دوري ۳ مه

امریکاپاکستان ته خبر داري ورکړي چي که چیري کشمیري مبارزینو ته مرستي رسول بندي نکړي نو دتروریستو هیوادونو په لست کي به راوستل شي.

دجنګ ورځپاڼي په حواله دایران راډیو وویل چي دامریکا دبهرنیوچاروزارت دجولاي په (۲۱) مه نیټه دخپل پارلمان دبهرنیو اړیکو دکمیټي څخه غوښتي دي چي دپاکستان په صدراعظم باندي زورراولي ترڅو دکشمیري مبارزینو سره خپلي مرستي بندي کړي.

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم وروړحکمتیار دپاکستان دجماعت اسلامي دمشروروړقاضي حسین احمد سره وکتل

پیښور : دوري ۲ مه .

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم محترم وروورحکمتیار تیره ورځ په پیښورکي دپاکستان دجماعت اسلامي دمشر وروورقاضي حسین احمد سره وکتل.

باخبري منابع وایي چي وروورقاضي حسین احمد اسلام آباد څخه په دیرکم وخت کي پیښورته راورسید له وروورحکمتیار سره دملاقات لپاره له اسلام آباد څه پیښور ته راغلي و ، په خبرکي دا هم راغلي چي اسلام پدي کتنه کي چي یونیم ساعت یي دوام وکړ دواړو خواوودرواتو حالاتوپه باب مفصلي خبري وکړي.

(۷)مخ

دهیوادمحترم صدراعظم دننګرهارولایت دحزب اسلامي له مسئولینوسره‌خبري وکړي

جلال آباد دسنبلي ۳

دچهارشنبي ورځي په سهار دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم اودحزب اسلامي مجاهد امیر وروورحکمتیار دننګرهارولایت دلومړي غبرقول اردو په کلوپ کي دننګرهارولایت د حزب اسلامي له مسؤلینو اودننګرهارولایت دلومړي غبرقول اردو قوماندان اودکورنیو چاروو‌زارت دسرپرست ډګر جنرال فضل الحق "مجاهد" دننګرهارداسلامي پوهنتون رئیس وروورفضل محمد ابراهیمي دحزب اسلامي دتخطیط اوتنظیم ریاست مسؤل اودپوهنتون استاد وروورحاجي جانباز (سرفراز) اودننګرهارد‌ارشاد اسلامي مسؤل وروورقاري صاحب مؤمن دخبرولپاره ومنل.

دخبروپه ترځ کي دتنظیمي امورو اوهمداراز دننګرهارولایت دپوهنتون په اړوند تفصیلي خبري وشوي.

وروورحکمتیار په دغه کتنه کي وروونو ته دمربوطه کارونو په اړوند لازمي لارښوونې وکړي.

مقامات مصرازانتشارکتابی درموردشیخ عمر عبدالرحمن جلوگیری کرده اند

قاهره ۲ سنبله

مقامات مصري ازانتشارکتابي درموردشیخ عمرعبدالرحمن واعظ مسلمان مصري جلوگیري کرده اند.

طبق گزارش مصراسترداد شیخ عمر را ازامریکا براي محاکمه به اتهام توطیه قتل وتحریك به شورش درخواست کرده است.

درکتاب ممنوع شده درمیان سایراتهامات اضافه شده است که مقامات دولت مصر بامسلمانان مصري گفتگوهاي داشته اند.

دعظمي صدارت لومړي مرستیال دبامیانوولایت دکهمرد اوسیغان ولسوالي جهادي قوماندانان دخبرولپاره ومنل

کابل : دوري (۲)

دعظمي صدارت لومړي مرستیال محترم انجنیر قطب الدین "هلال" پرون له غرمي وروسته دبامیانو ولایت دکهمرد اوسیغان دولسوالیو له جهادي قوماندانانوسره دعظمي صدارت په ماني کي وکتل.

دعظمي صدارت څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چي پدي کتنه کي دبامیانودولایت دسیمه ایزو مسئلو په باب په عمومي توګه اودکهمرد اوسیغان د ولسوالیو دداري تشکیلاتو دستونزوپه باره کي یي په خاصه توګه خبري اتري وکړي.

اودنوموړي ولایت دخلکو دستونزو دلري کولو په باب لازم تصمیمونه ونیول شول.

دبوه بل خبرله مخي دصدارت دوهم مرستیال اودارشاد اواوقافو وزیر محترم ارسلا رحماني هم دبامیانو ولایت جهادي قوماندانان خپل حضور ته ومنل اولازمي لارښووني یي ورته وکړي.

بیش ازدوصدهزارکارمنددولتی درکشمیراشغالی بخاطر مظالم ناروای اردوي هندی دست به تظاهرات زدند

سرینگر: ۲ سنبله .

به اساس گزارش هاي رسیده از سرینگر بیش از دوصد هزارکارمند دولتي درکشمیراشغالي به خاطر رفتار جیران صفتانه فوج هندي وپامالي حقوق انساني دست به تظاهرات زدند.

طبق گزارش شورواحساس مردم زماني اوج گرفت که جسد شهید خواجه غلام رسول امیرجماعت اسلامي منطقه هندواره پس ازیکروز گرفتاري تسلیم مرکز پولیس هندواره گردید . زمانیکه مردم ازشهادت خواجه غلام رسول اطلاع یافتند دست به تظاهرات وسیعي زده برخلاف هند وبه طرفداري اسلام شعار میدادند. درین وقت درمنطقه راولپوره بین مجاهدین وعساکر هندي برخورد شدیدي به وقوع پیوست.درنتیجه چهارتن ازمجاهدین شهید ودونفر ازعساکرهندي به قتل رسیدند.

اسرائیل باعزام توپخانه جدیدی به جنوب لبنان نیروهایش راتقویه میکند

بیروت ۲ سنبله

به اساس گزارش هاي منابع خبري اسرائیل توپخانه بیشتري به جنوب لبنان فرستاده است تانیروهایش رادرمنطقهٔ تحت اشغال خود تقویت کند.

طبق گزارش : این تقویت نیروها بدنبال حمله موشکي چریك هاي مسلمان به مواضع نیروهاي اسرائیل صورت مي گیرد.

دومین حمله به نیروهاي اسرائیل درجنوب لبنان طي هفته اخیرصورت گرفت .

دستاوردهاي سفراخیرصدراعظم کشوربه ممالك دوست وهمسایه

طوریکه هموطنان عزیز اطلاع دارند ، برادرحکمتیارصدراعظم کشور،دوهفته قبل بنابه دعوت کشورهاي دوست وبرادر (پاکستان ،ایران وعربستان سعودي) مسافرت دوستانه اي به آن ممالك داشتند . برخورد حکومات هرسه کشور دربرابر صدراعظم دولت اسلامي همانطوریکه قبلاً حدس زده مي شد ، خیلي دوستانه وگرم بود .

کشورهاي پاکستان ،ایران وعربستان سعودي قسمیکه باهمکاري هاي مادي ومعنوي خویش ازداعیه مجاهدین ومهاجرین افغان درجریان جهادمسلحانه حمایت نموده بودند ، بعد از سقوط رژیم کمونیست واستقرار دولت اسلامي درسرزمین افغانستان ،اولین کشورهاي اند که آمادگي شانرا در امر بازسازي ،عودت شرافتمندانه مهاجرین و عادي شدن اوضاع درافغانستان ابراز داشته اند . هرچند حلقه هاي استعماري درین منطقه نمي خواهند که پیوند اخوت ودوستي میان ملل مسلمان جاي بگیرد وبالطائف الحیل درپي برهم زدن وحدت وهمبستگي مسلمانان اند، ولي بخاطر باید داشت که طرفداران داعیه وحدت درمیان کشور هاي اسلامي هم کم نیست وروز تا روز این اندیشه درمستواي جهاني درحال قوت گرفتن است.

گرچه براي غرب تاسیس دولت اسلامي ونیرومندي درافغانستان که ممثل آن چهره هاي مجاهد ،قاطع ومسلمان چون حکمتیار وامثال او باشد . خیلي ناگواراست، ولي این واقعیتي است که غرب باید به آن منقاد باشد ، زیراملت مسلمان ما براي تاسیس همچو یك حکومتي دست بجهاد ومبارزه زده بودند وبراي نیل بچنین آرماني بادادن متجاوزازیك ونیم ملیون فرزندان خود ، بنیاد امپراطوري کمونیزم راقلع وقمع وبساط رژیم پوشالي ماسکورا درکابل برچیدند بعضي حلقه هاي مغرض وبیماردرداخل وخارج کشور چنان پروپاگندمي نمودند که گویامجاهدین حزب اسلامي در جنگهاودرگیري هاي کابل دخیل اند و توافقات آتش بس ازجانب آنها نقض مي شود . مگرمسافرت اخیر برادر حکمتیار بخارج درچنین اوضاع غیر نارمل که بحق بیانگر شجاعت ،اطمینان روحي وعزم قاطع او براي حل بحران واعمارمجدد کشور است،مشت محکمي است بردهن یاوه گویان ضعیف النفسي که براي حفظ اقتدار موهومي خویش ازارتکاب هیچ عملي حتي توسل به

ص (۸)

سخن روز

انتخابات تنها وسیله حل مشکلات

نصیراحمد "حادث"

چگونه میتوان فرماندهان ولایات مختلف کشور رازیریك اداره آورد.

ملت مسلمان افغانستان از دیربازي بدينسو ازنداشتن يك حکومت نیرومند مرکزي رنج میبرد ازهمان اوايل رويکارآمدن رژیم کمونیستي دست نشانده روس ها درکابل بخش هاي وسیعي از کشور توسط مجاهدین فتح گردیده وهريك از این مناطق بصورت مستقلانه اداره شده اند.وبراي سالیان متمادي ارتباط نزدیك میان اکثرولایات وجود نداشته است.

بعد از سقوط رژیم نجیب مزدور وضع از این نگاه آشفته گردید زیرا تقریباً تمام ولایات به شکل واحدهاي مستقل درآمدند ودربسا ازامورمهم وحیاتي که متعلق به منافع کشور است خودسرانه عمل نمودند.

سوالي که باید بدان پاسخ داد اینست که چطور میتوان ازوضع موجود برون آمد ،چگونه میتوان فرماندهان ولایات ومناطق مختلف کشور رازیراداره يك حکومت مرکزي جمع کرد.

هرچند بخواهیم پیرامون این معضله غوروودقت کنیم بیش ازدوراه جهت خروج از این حالت نمي توان سراغ کرد.

- باید نیروي بزرگي ظهورکند که درمرحله اول اداره رادرکابل بدست گرفته وبه اسرع وقت امنیت آنراتامین نماید وسپس به ولایات مختلف پرداخته ونیروهاي محلي را يك بعدديگر سرکوب نموده وهمه کشور رازیريك اداره واحددرآورد.

صرف نظرازآنکه ایا چنین اقدامي مشروع خواهد بود یا نه؟ دیده میشود که بسیاري چنین آرزوي را دارند که اگر بتوانند اینکار را انجام دهند وخودبحیث نیروي فاتح زمام امور رادردست گیرند اما تجربه نشان داده است که روندگان اینراه هرگز شاهد موفقیت را به آغوش نکشیده اند.

- راه دوم آنست که حکومت مرکزي درکابل نماینده تمام ولایات ونیروهاي محلي باشد ، براي ساختن چنین حکومتي چه بایدکرد؟ آیا توافق تنظیم هاي جهادي روي مسایل چندکفایت مي کند ؟ وآیاملت حاضر است حکومتي را که به چنین اساسي تشکیل شود براي مدت طولاني بپذیرد وبالاخره آیا چنین حکومتي خواهد توانست وحدت ملي کشور را حفظ وبه مشکلات موجود پایان دهد؟

طوريکه دیده شده است عده يي ازتنظیم ها به توافقات خود التزام چنداني ندارند ، امروز توافق مي کنند وفردابه آن پس پا مي نمایند ، امروز تعهدي نمایند وفردا آنرانقض مي کنند.

درمورد اینکه آیا ملت حاضر است چنین حکومتي را براي يك مدت طولاني بپذیرد ،صرف نظرازملت بیچاره اصولاً خودتنظیم ها حاضر به چنین کاري نیستند وطوريکه قبلاً عرض شد به تعهدي که دیروز کرده امروز پس پامي زنند.

پس چطور میتوان به این مشکل پایان داد ؟ سواليکه ازمدت ها قبل مطرح بوده وعده کثیري از جواب دادن به آن امتناع کرده اند ، اما تاجائیکه به حزب اسلامي افغانستان مربوط میشود یگانه راه حل این مشکل وتمام مشکلاتیکه دامنگیرما بوده واطراف ما رااحاطه کرده برگزاري انتخابات ومراجعه به آراي مردم مسلمان افغانستان میباشد.

حزب اسلامي افغانستان ازهمان مرحله اول که مجاهدین مي بایست حکومتي تشکیل میدادند روي انتخابات ومراجعه به آراي مردم مسلمان افغانستان تاکید داشته وآنرا یگانه راه حل مشکلات دانسته است.

تاجائیکه تاریخچه چند سال اخیر تنظیم هاي مختلف نشان میدهد باکمال تاسف باید اظهارداشت که اکثریت تنظیم ها خواسته اند به لطایف الحیل از انتخابات فرارکنند.

بهر حال بعد از مصایب وآلام زیادي که ملت مسلمان ومجاهد افغانستان وعلي الخصوص اهالیان کابل متحمل شدند در زمستان گذشته معاهده یي میان تنظیم هاي مختلف جهادي درشهر اسلام آباد مرکز پاکستان به امضا رسید وبه تعقیب آن رهبران تنظیم هاي امضا کننده به مکه معظمه رفته ودربیت الله الحرام مجدداً تعهد نمودند که به مفاد معاهده پاي بند خواهند بود.

درمعاهده مذکور روي انتخابات تاکید گردیده وقرارشده تابرج میزان ١٣٧٢ درکشورانتخابات برگزار گردد.

اماباز هم بانهایت تاسف دیده میشود که عده یي ازتنظیم ها کماکان درراه برگزاري انتخابات مشکل تراشي نموده وآنرا غیر عملي میدانند اما حقیقت آنست که اگر تنظیم هاي جهادي صادقانه دراینراه گام بردارند مشکلي که مانع برگزاري سالم انتخابات گردد وجود نخواهد داشت.

تنظیم هاي مختلف جهادي باید به تعهدي که درحرم نموده اند وفاداربوده وازنقض آن اجتناب نمایند زیرا اگر انتخابات واقعاً غیرعملي میباشد باید از امضاي میثاق مکه خود داري میکردند.

طوريکه انجنیر حکمتیار امیرحزب اسلامي افغانستان وصدراعظم کشوراظهار داشته اند، حزب اسلامي افغانستان بدان جهت روي انتخابات تاکیدمي نماید که جلوجنگ ،خونریزي وتصاحب قدرت ازطریق زوروگرفته شده ،امنیت درکشورتامین گردیده وبدین ترتیب ضرورت جنگ منتفي شود.

امیداست تمام تنظیم هاي جهادي متوجه شرایط حساس کشوروزندگي پراز آلام ملت مسلمان افغانستان بوده ودرراه برگزاري انتخابات که یگانه راه حل خروج ازمشکلات موجود میباشد.

بذل مساعي نمایند ورنه وضع کنوني همچنان ادامه یافته وکشور مجبور خواهد بود براي سالیان درازي دربحرمشکلات غوطه ورباشد.

بشارت

تقریباً یوه میاشت دمخه ددولت محترم رئیس استاذ رباني يو فوق العاده فرمان صادرکړ په هغه کي بي ويلي چي دجلال آباد له پریکړي سره په سم دکمونیستانو له دوري مخکي ،د داودخان دوخت دماموریتو قانون عملي کیږي.

که محترم استاد رباني دقیق سوچ نه وي کړي اويايي مشاوريتو خپله دنده سمه نه وي ترسره کړي اوسهل انګاري يي کړي وي ،نوموږ په ډیر درناوي اوادب استاد ته وايوچي داکاراشتباه ده ،پکارده استاددیوه مسلمان عالم په توګه داخانته پیغورونه ګني چي خپله کړي خبره وروسته تردي چي ورته روښانه شي چي سمه نه ده بیرته واخلي.

دداود دوخت دماموريتو قانون "دیوه " پرزیدینشل "یاداسي سیستم قانون دي چي هلته بواځي د دولت رئیس و اوصدراعظم ورسره نه و.

موږله استادنه پوښتنه کووچي زموږپه اوسني سیستم کي خوصدراعظم شته هغه هم داسي صدراعظم چي داسلام آباد ،جلال آباد معاهدوله مخي دهیواد داجرائیوي چارو ټول صلاحیت ورکړل شوي دي.

نودداود دقانون له مخي خو ټول صلاحیت د دولت رئیس ته ورکړل شوي و .

اوس به دصدراعظم صلاحیت څه وي ایادماموریتو دقانون له مخي چي کومي چاري اجراکیږي ،هغه به ټولي ددولت رئیس ترسره کوي اوصدراعظم به مطلقاً لاس ترزني ناستوي.

په داسي حال کي چي دټول اجرائیوي تشکل اوهیئات لومړي درجه مسؤل هم هغه دي .

دوهمه خبره داده چي محترم استاد رباني ته کوم قانون اوترون داحق ورکړي چي هغه فرمان صادرکړي چي دا یاهغه قانون نافذ وي.

داخوباید ددولت په عالي شوري او یاکابینه کي تربحث لاندي ونیول شي اوبیا داسلام آباد اوجلال آباد

دمحترم استاد رباني فرمان

معاهدواوزموږدرواني وضعي ،ظروفو اومشخصاتو داقتضاپه پام کي نیولو سره پریکړه وشي .

دریم داچي داسلام آباد اوجلال آباد په ترونونو کي ددولت درئیس اوصدراعظم دصلاحیتونو په تفکیك رڼاڅوله شوي ده اودهغو کلي کرښي په ګوته شوي دي ،که داداري قانون له مخي ټولي چاري د داود خان د دوري په حساب ددولت په رئیس پوري وتړلي شي - داسلام آباد اوجلال آباد دترونونو ددي صریحوحکمونو سرنوشت به څه وي چي وايي:

دجمهور رئیس صلاحیتونه :

الف : دافغانستان داسلامي دولت درئیس دمرستیال ټاکنه -

ب : دمقرراتو له حکم سره سم دصدراعظم په مشوره دستري محکمي دقاضیانو اوقاضي القضات نصب اوعزل .

ج : دافغانستان دوسله والو ځواکونودجوړښت اواهدافوپه رڼاکي دهیواد دوسله وال پوځ اعلي قوماندانی کول.

د- دکابینې یا پارلمان له توصیې سره سم دجګړي اوسولي اعلان.

هـ : له مقرراتوسره سم دپارلمان ،دغونډودایرول اوختمول .

و: دملي وحدت ټینګښت دافغانستان دټولو اتباعو په ګټه دهغه داستقلال ،بي طرفي اواسلامي تشخص ساتنه.

ز: له شریعت سره سم اودمقرراتو په چوکاټ کي دمحکمود پریکړو تنفیذ یابښل.

ح : په بهرنیوهیوادونو کي دافغانستان ددیپلوماتیکو هیئاتونو دمشرانو ګومارل اوله دیپلوماتیکونورمونو اوتعاملاتوسره سم په نړیوالو سازمانونو کي دافغانستان ددایمي نمایندګانو ټاکنه اودبهرنیو دیپلوماتیکو استاځیوداګریمانونو منل.

ط : له قانون سره سم دقوانینو اومقرراتو توشیح پریکړو ته اتباروركول اودنړیوالو ترونونو لاسلیکول.

ي : ددولت رئیس کولاي شي چي له خپل لزوم دید سره سم خپل ځیني صلاحیتونه د دولت درئیس مرستیال اویاصدراعظم ته ولیږدوي.

ك : دجمهور رئیس دوفات یا استعفي په صورت کي دجمهوري ریاست چاري مستقیماً دجمهور رئیس مرستیال ته سپارل کیږي ،چي هغه به له اساسي قانون سره سم ، دنوي جمهوررئیس دټاکلوتر وخته دچارو سرپرستي کوي.

ل : دبانك نوټونو چاپ ته درسمي اجازي ورکول.

م : جمهوررئیس کولاي شي چي د هغوحیاتي اومهمو ملي چارو په باب چي دهیواد دورځنیو اوعادي اجرا،تو په چوکاټ کي نه ځایږي .دکابینې فوق العاده غونډه جوړه کړي.

دصدراعظم صلاحیتونه:

صدراعظم اوکابینه ددي صلاحیتونو درلودونکي ده:.

الف : ددي ترون له متن اوروح سره سم اودقانون دننه دهیواد دکورني اوبهرني سیاست ټاکل اوعملي کول.

ب : دوزارتونو اونوروموسسو ، ټولنیزوارګانونو اوادارو کنټرول اوپالنه اودهغوي ترمنځ دهماهنګي ایجاد.

ج : له مقرراتو سره سم داجرائیوي اواداري تصمیمونو نیول اودهغودتنفیذ دچارو پالنه اوڅارنه.

د: د قوانینونو جوړول اودمقرراتو اولوایحو تیارول.

هـ : ددولت دبودجي تنظیم اوکنټرول او دهیواددااقتصاد دبیاوداتولولپاره دزیرمودپه کاراچولوپه خاطر دلاروچارو غوره کول اودیوه ګټور پولي اوبودجوي

و : دیوه سیستم ینست ایښودل .

اسلامي اوپه ځان متکي هیواد دجوړیدولپاره دټولنیزاقتصاداوتعلیمي پروګرامونوجوړول اوپر تنفیذ يي څارنه .

ز: په نړیوالوټولنو کي دافغانستان د اهدافو ساتنه اولوړتیا اود بهرنیوترونونو، پروتوکولونوبین المللي اواقتصادي ترونونو په باب بحث اومناقشه .

ح : دعمومي نظم ،سولي ، امنیت ، اسلامي اخلاقو د تضمین اودیوي خپلواکي اوبي طرفي عدلیي پوسیله په اداروکي دانصاف تامین.

له دي یادونو او حقایقواودلایلو نه په داګه روښانیږي چي دمحترم استاد تصمیم په غور نه دي نیول شوي.

موږ هیله کوو چي استاد به دخپل فرمان په عملي کیدو ټینګارنه کوي.

څکه که داسي وشي بیا به په واضح توګه معلومه شي چي هغوي دمعاهدي دتطبیق په لارکي خنډونه راولاړوي .

اوس چي زموږ ولس په ډیره ستوماني اومظلومیت په خپل هیوادکي دسولي راتلوته منتظردي ،له هر داسي تصمیم اوداسي ګام نه چي خبریږي دکوم په وجه يي چي داانتظاراوږدیږي . دهغه درد ورته له یوي فاجعي کم نه وي .

موږ هیڅ نه پوهیږو چي هغه به کومه انګیزه وي چي بوچاته اجازه ورکړي چي په نویو ازمویښتونوکي ددي قوم اچولو ته زړه ښه کړي چي دبدن له اندام ، اندام نه يي وینې څاڅي اودسرنوشت په تختوبي وحشتناکي بدمرغي نڅاکوي.

محترم استاد "رباني " زموږدهیواد ددولت رئیس دي - هغه یومسلمان عالم او دمجاهدینودروند مشردي.

دافغانستان په ترټولو لوړه کرسي ناست دي -ترټولو زیات مسؤلیت ورپه اوږودي.

هغه باید دقوم اوهیواد دوقار ،ابرو اوسرنوشت ترټولو لومړي درجه اوجدي ساتونکي اومدافع وي.

دهغه موقعیت داایجابوي چي دګروپونو اوتنظیمونو له سطحي لوړفکروکړي.

محترم استاد ته چي کوم مسؤلیت ورسپارل شوي ، دهغه ایجاب دادي چي باید دجلال آباد دترون دتطبیق دپروسي په برخه کي ترټولو تړه کرداردده واي . هغه ته پکار ده چي له ورو ،ګروپیکو اواجرائیوي مسایلو يي ځان لوړکړي واي اوداعملیه يي ترخپل ابتکار اوڅارلاندي نیولي واي چي وطن دجګړي له حالته سولي ته ویاسي.

دجنګونو احتمال ختم شي - دبي اعتمادي اوکرکو دسیاست فضا خپل ځاي دباورتفاهم اومعقولیت سیاسي چاپیریال ته پریږدي.

داستاد عمر اورسمي اواخلاقي موقعیت ددي ځرګندحکم کوي ،چي هغه دوطن اوخپل مظلوم ملت دفریادونو اوارمانونو کچکول له ځانه سره اخیستي واي اودهر سیاسي مشراومسؤل دروازه يي ورټکولاي .

بواځي دهغوي دکورونو اودفترونو دروازي نه بلکي دضمیرونواووجدانونودروازي هم پرهغوي يي غږکولاي چي ترخودا روح سوځوونکي ناورین ، ترڅوله یوبل نه دانتقام احساس اوترڅودملت دسرنوشت له منبجه دبي نتیجي اوبربادوونکو سیاسي لوبو ډګر جوړول ؟

واقعیت دادي چي محترم استاد داکار کړي واي اوبايي وکړي دافغانستان تاریخ به يي نوم په زرینو ټکیو لیکه خوماسفانه محترم استاد په نورڅه لګیا دي اودده دوضعیت مطالعه کول دا خوشبیني راکموي چي هغه به له دي پرته کوم لوړ کردارادا کړي.

موږاستاد ته دلسوزانه مشوره ورکوو چي هغه به خپل روش اساسي تجدید نظر وکړي.

اودغسي عمل اوچال چلن وکړي ، ځرنګه چي ددولت درئیس مقام يي ایجابوي اوځرنګه چي دیوه مجاهد مشر شان اوموقعیت تقاضاکوي.

نقش تخریبي وانتقام جویانه روسهادررابطه بانشرپول بي پشتوانه

فریور

اضراراقتصادي ناشي ازنفوذ ومداخله روس ها ورويکارآمدن فاجعه ننگین هفتم ثور درکشوربه ویژه اشغال نظامي افغانستان بدست ارتش جنایتکارسرخ ، چیزي است آشکار وغیرقابل انکار.

روس ها واياديِ فرومایهٔ شان درطول حاکمیت مستقیم خود به غیراز جنگ وویرانگري چیزي براي ملت مظلوم ودردمند ما به ارمغان نیاوردند .

سیستم ابتدايي زراعت وآبیاري کشور تقریباً نابود گردید.صنایع دستي وکارخانه هاي کوچك تولیدي بنابرکسب وخامت جنگ لاینقطع به کلي ازکارافتاد .اسعار خارجي بوسیله روس ها ونوکران شان به کشورهاي بلاك سوسیالستي انتقال یافت .ویك قسمت قابل ملاحظه ي آن بنابربي امنیتي وکساد ببازارتجارت بوسیلهٔ تجارازمرزهاي کشورخارج گردید.

بانك هاي کشور مجموعاً درخدمت اهداف جنگي رژیم کمونیست قرارگرفت وبه سرعت روبه افلاس گذاشت واعتباربین المللي خود را از دست داد .

سیاحت وتوریزم که یکي ازمنابع عمده عایداتي افغانستان بود ،کاملاً متوقف گردید. کارسروي واستخراج بعضي ازمعادن ومنابع طبیعي ما که ذریعهٔ دول وکمپني هاي دنیاي غرب وامریکا قسماً درزمان ظاهروداؤد آغاز شده بود ، تعطیل گردید. برعکس کاراستخراج و بهره برداري گازونفت مابه عنوان مثال باقساوت هرچه بیشتر به نفع روس ها چندین برابرگردید.

سیستم اخذ مالیه وعواید گمرکي تقریباً به صفررسید، برعکس مصارف رژیم جنگي کمونیست ها ده ها وصدها چند بالارفت .

روس ها وايادي آنها مي خواستند پاي شان را درافغانستان محکم کنند، این کارضرورت به منابع هنگفت مالي وپولي داشت، باید چه مي کردند ؟ یگانه راه ممکن عبارت ازچاپ وتوزیع پول بي پشتوانه ذریعه روس ها براي رژیم تحت الحمایهٔ شان درافغانستان بود. این اقدام تخریبي روس ها هرچند که با عکس العمل شدید ملي وبین المللي مواجه شدوبانك هاي معتبر جهاني ، بانگ نوت هاي افغاني چاپ روسیه رافاقداعتبار اعلان نمودند، مگر باآنهم روس هاي وحشي براي پیشبرد اهداف توسعه طلبانهٔ خود به نشر وتوزیع پول هاي بي پشتوانه درافغانستان پرداختند. وبدینوسیله به حیات ننگین حکومات کمونیست تره کي ، امین ، کارمل ونجیب ادامه دادند.

هموطنان مظلوم وبلاکشیدهٔ ما از اینکه روس ها براي کمونیست هاي مزدورشان پول طبع کرده ودراختیارآنان قرارمي دادند ، چندان گلایه نداشتند وآن رايك امر طبیعي میان آقا وبادارمي پنداشتند ، ولي اکنون که ظاهراً رژیم نجیب سرنگون گردیده وباید مراودهٔ سیاسي واقتصادي افغانستان وروسیه معکوس شده باشد ،مردم مي پرسند که چه چیز باعث دلچسپي زمامداران کرملین شده که باچنین سخاوت بزرگوارانه سیل مهمي از پول هاي بي پشتوانه را راهي افغانستان مي سازند؟ !!

قاعدتاً لازم بود که باتغییر نظام سیاسي کشور ،باید تمام تعلقات ومراودات افغانستان درقدم اول باروس ها ودول اقمارآن موردتجدید نظرقرار مي گرفت ،وازسخاوت چهارده ساله فرمانروایان مسکو نسبت به افغانستان وافغان ها ابراز شکران مي گردید. وکارنشروطبع پول را به يك منبع دیگر که لااقل باملت مادشمني نمیداشت ،محول مي شد.

وفکرمي شد که دريك نظام اسلامي نشروطبع پول فاقد اعتبار وپشتوانه آیاشرعاً جوازدارد،یانه ؟

درنظام اقتصادي اسلام مسایلي از قبیل: خمس ،عشر، ذکات وسایر مایملك دولتي اعم ازمصارف ومنابع طبیعي اساس وبنیاد عوایدومدارك دولت را تشکیل مي دهند، ودولت وحکومت اسلامي متکي برهمین عواید ومدارك باید به ضرب ونشرسکه وبانك نوت مبادرت ورزد ، درغیرآن این عمل قطعاً جنبهٔ شرعي نخواهد داشت.

هرافغان مسلمان حق دارد بپرسد که امپراتوري روسیه شوروي آخردشمن ملت ماوعقیده وشعایرملي مابود ، وطن ما را به خاك وخون کشید ، ملیون ها زن ومردوکودك مارابه کشورهاي دیگر آواره ساخت، يکنیم ملیون انسان مؤمن وشیفتهٔ اسلام وقرآن رامظلومانه به شهادت رسانید وده ها هزار افغان دیگر را ازنعمت دست وپاي وچشم وبینايي محروم ساخت، وزمین وزمان کشور اسلامي ما را باگازوباروت توپ وتانك وطیاره هاي وحشتبارش مسموم نمود.

دیگر چه علاقمندي روس ها درافغانستان وجود دارد که درجیب برخي زمامداران ما ، کریمانه انبارهاي پول فاقد اعتبارچاپ خویش راسرازیرمي نمایند ؟!!

آري روس ها همانگونه که اقتصاد رازیربناي جامعه وانمودمي کنند،مي خواهند که باتخریب اقتصاد افغانستان ازمردم مسلمان وآزادهٔ ماانتقام شکست خفتبار خود رابگیرند. که تاحدود زیادي متأسفانه در این کارموفق بوده اند.

بدون هیچگونه شك وتردید ،ادامهٔ کارنشر پول بي پشتوانه وارسال آن به شبکه هاوحلقات خاص درافغانستان ،جزء همان برنامه تخریبي روس ها درکشورمي باشد.

روس ها اگردرگذشته يك مقداراين پول رابراي کمونیست هاي افغاني ارسال کرده وبامقدار دیگر از پاکستان دالر خریداري مي نمودند ، امروز نیز باارسال هزارها تن افغاني بي پشتوانه ازطریق زمین وهوامي خواهند دوستان پیداوپنهان دیروز وامروز خود را سرپانگهدارند ،وبوسیلهٔ آنان ملت مارا به سوي فقر،تورم پولي ، ایجاد تفرقه ودرگیري وخونریزي بکشند.

کي مي تواند انکار کند که جنگ هاي خونین پروان-کاپیسا و سایر نقاط کشور دريك سال واناخیر بوسیلهٔ همین پول هاي بي پشتوانه چاپ روس صورت نه گرفته است؟!

باید دانست که اکنون نیز ، این پول فقط درجیب وخزانهٔ عدهٔ محدودي ازآدم ها ،چون برخي قوماندان هاي معلوم الحال به اصطلاح "تکك" مي شود و قاطبهٔ مردم مسلمان وگرسنه مادرحسرت لقمه ناني آبرومندانه مي سوزند.

بهرحال اکنون که حکومت جدید کشورمي خواهد به این وضع رقت بار خاتمه بخشد افق جدیدي از امیدواري واطمینان به آینده دربرابر هموطنان شریف ماگشوده شده است.

اقدامات اخیر حکومت اسلامي درمورد حل مشاکل اقتصادي ،پولي وبانکي وبیرون آمدن از بحران اقتصادي موجود قابل ستایش است.

امیدواریم که دست اندرکاران امور اقتصادي حکومت،نه درحرف،بلکه درعمل به تعمیل فیصله ها وتصامیم شان دلسوزانه بپردازند.

ودست اجانب وعمال شان را ازکیسه وبیت المال مسلمین کوتاه نمایند ، وزمینه رابراي ایجادیك نظام سالم اقتصاد اسلامي درکشور مهیا کنند.و افغانستان مخروبه وبه خاك وخون کشیده رابه سوي شاهراه ترقي وخودکفايي سوق دهند، ودراین مسیر مقدس ،نظریات نیك ودلسوزانهٔ فرد فرد ملت مسلمان وشهید پرور افغانستان را توأم باهمکاري داوطلبانهٔ عملي آنان جلب نمایند .ان شا ءالله .

حیدرعلیوف ازفرار...

اضافه کرد . به روز سه شنبه دراثر تیراندازي سربازان به روي تظاهرکننده گان مخالف جنبش جدايي طلبان درینکران ٣ نفرکشته شد . درهمین حال درجنوب آذربایجان نیروهاي آنجمهوري شهرجبرئیل راکه درمحاصرهٔ نیروهاي ارمني است ترك کرده اند.

اماهنوز روشن نیست که تمام نیروها شهرراترك کرده باشند.

تورنګیلاک سره پاګلان دیوي بلي تیروتني په‌سمندرګدوي

غلام حضرت شاکر

نږدي یوه میاشت دمخه چه دتاجکستان مسلمانو مبارزینو دافغانستان له سرحد نه شل کیلومتره اېلوا تاجکستان په دننه کښي ددغي سیمي په سرحدي پاېونکو کارنده عملیات ترسره کړل او په نتیجه کښي یې ۲۵ تنه روسي عسکر مړه اوله دیرشو تنو زیات کمونیست پوځیان ټپیان شول.

دي جریان دروسیي ددفاع وزیراودروسیي پارلمان ځیني غړي مجبور کړل چې ددي ماجرا دحاج اخیستلو اودافغانستان اوتاجکستان په پوله دروسي پوځیانو دمزید تراکم لپاره تاجکستان ته سفر وکړي ،بلاخره دتاجکستان دکمونیست اوغاصب رژیم له مشررحمن نبي یوف سره ددي هیئت دکتلو نتیجه داشوه چې دتاجکستان اوافغانستان پرپوله دتاجکي مجاهدینو دیرغلونو دمخنیوي په نوم دنورو روسي پوځونو پرتراکم اودګډي قوماندانۍ پرجوړولو موافقه وکړي ،پدي ترڅ کښي دروس ددفاع وزیر هغه وخت داخبره په داګه کړه چې هغوي به دخپلو پرو عسکرو په کسات کښي په خشن غبرګون لاس پوري کړي ، لدي سره سم دزي نیم زره روسي عسکر چې دالوتکو حمایت ورسره دي او په موردونو وسلو سمبال دي دافغانستان اوتاجکستان په سرحد کي ځاي په ځاي شول ، دهغوي له ځاي په ځاي کیدلو سره سم یې دتخارولایت دینګي قلعه ،دشت قلعه ،، چاه آب او... سیمي ترمسلسلو ډزو لاندي ونیولي چې زمونږ دسلګونو بې دفاع وطنوالو په وژنه اوهجرت کولومنتج شوي ،اوتر ننه هم لادالړي دوام لري ،اودادي اوس دکامنولت هیوادونو نورپوځونه هم دافغانستان اوتاجکستان په پولوکښي ځاي په ځاي کیږي چه شالبدي دیوي لويي اواوردي غمیزي خبراګوي .که څه هم دافغانستان داسلامي دولت لخوا پدي روند دروسي پارلمان اودملګروملتوواداري ته احتجاج لیکونه استول شوي اوله هغوي نه غوښتل شوي چې باید روسي پوځونه دافغانستان اوتاجکستان له سرحدنه وایستل شي ،اوضمناً باید روسي عسکرد افغانستان په دننه کښي ددزوپه کولو سره زمونږ دهیوادوالو دمرګ ژوبلي موجبات فراهم نه کړي .اوبیا افغانستان ته دراتګ په وخت کښي دروسیي استازي دهیوادجمهور رئیس سره په ملاقات کي ژمنه وکړه چې نورنه دافغانستان په دننه کښي روسي پوځونه ډزي نه کوي .

خوسره لدي هم دادي دافغانستان شمالي کلي اواوسیدونکي دکامنولت هیوادونو دپوځونو ترتهدید لاندي دي ، اولکه دروسیي دامنیت وزارت اداري مسؤل ولادیمیرپنګرنیکوف چې ویلي وو، روسي واکوال پدي نظر دي چې له تاجکستان نه ددفاع په اړوند دافغانستان په دننه کښي نظامي عملیات تر سره کول دروسانو اخلاقي حق دي . حتي روسي واکداران افغانستان ته څیرمه تاجکي سیمي دخان ګڼي چې داخپله دهغه هیواد استقلال ته په چپ نظرکاته دي.

په هرصورت په دي اړوند دافغانستان دبهرنیوچارو وزیر دتاجکي مقاماتو په بلنه تاجکستان ته تللي ؤ ترڅوپدي مسئله بحث وکړي. څوداسي معلومیږي چې دکامنولت هیوادونو مشران غواړي دتاجکستان په داخلي مسئله کي دافغانستان پښه ورداخله کړي او پدي ترتیب ثابته کړي چې ګویا افغانستان دتاجکستان په داخلي امورو کښي لاس لري . دکامنولت هیوادونو دخلورجانبه خبرونه هم مراددادي چې افغانستان دتاجکستان په قضیه کښي بوجهت ونیسي ، اوبیا دافغانستان په دننه کښي دخپل پوځي اونظامي کمپاین انکشاف ته توجیه پیداکړي اوزمینه مساعده کړي. او... داچي روسان بوخل بیا دبین المللي موازینو پرخلاف زمونږ دهیواد په دننه کښي پدغه دول ناخوانمردانه عمل لاس پوري کوي ،اوزمونږبي ګناه وطنوال وژني ،اولدینه مخکي دتاجکستان دملي اواسلامي حکومت چې دخلکو په غوښتنه رامنځ ته شوی و،پرخلاف بوخل بیا دتاجکستان معزول کمونستان حمایه کوي اورامنتخته کوي بي اوپه زرګونو دهغه هیواد مسلمانان دکمونیزم دوحشت ترمیچن لاندي ساه ورکوي .

امامللګري ملتونه په اصطلاح دادبشردحقوقومدافع سازمان پري غوږهم نه ګروي ،داخپله دا ثابتوي چې یاخودملګروملتواداره له روسانو اوکمونیستانوسره پدغه وحشت کي مل ده چې همداسي ده ،اویا خوروسان دتل په څیراوس هم دبین المللي موازینو مراعات نه ساتي اودخپل ناولي هدف درغاوني په جهت کي انساني عواطف ترپښو لاندي کوي . اوکنه داچه دتاجکستان مسلمانان دکمونیستانو دوحشت په نتیجه کي له خپل هیواد نه تبعید شوي ،اوچي چاپي فریاد وانوریدو او اوس دجهاد په توره دخپل حق ترلاسه کول غواړي ،دهغوي دغه هاند خو دبین المللي موازینو پربخلاف کوم کمپاین ندي ،اونه خوچي افغانستان ورته پناه ورکړي اواخلاقي مرسته یې کوي داداسي کوم عمل – دي چې دملګروملتواصولو اوموازینو په منافات کښي لیکه شي . خوبرعکس دروسي ځواکونو په تاجکستان کښي شته والي چې دهغه هیواد دملت دغوښتنو پرخلاف ځاي په ځاي شوي ، دملت په خلاف درحمان نبي یوف تنګه کوي، دابو تیري دي چې ملګري ملتونه یې باید وغندي اوعملاً یې مخه ونیسي ، اوداچې دتاجکستان دخپل منځي مسایلو پرسردافغانستان په دننه کښي په نظامي عمل لاس پوري کوي دادهغوي بل تیري اوبله ګرمه ده چې ملګري ملتونه باید اغماض پري ونه کړي، اصولاً باید ملګري ملتونه روسي اوتاجکي کمونیستانو ته ونیسي چې دتاجکستان له مسلمان ملت سره دهغوي خشن اوله تشدد نه ډك چلند دډیموکراسي منافي عمل دي . عجیبه داده چې کله په ۱۹۹۱ کال داګست په ۱۹ نیټه په روسیه کي دګناډي ینایف په مشري دکمونیستانو لخوا دګورباچوف دررژیم په خلاف کودتاه وشوه دامریکي دهغه وخت جمهوررئیس بش چې دملګروملتوسازمان یې تول په چورلیځ راڅرخي دکودتا چیانو سخته غندنه وکړه اودکودتاچیانو دغه عمل یې دګرباچوف دډیموکراتیکوپروګرامونو منافي عمل وباله ، اوضمناً یې دکودتا چیانو له نظام سره دمرستو دمقاطعي اعلان وکړ. اوهمدارنګه په روان کال کښي چې دسرطان په ۲۸ نیټه دپاکستان دسیاسي تشنج دختمولوپه منظوردپاکستان جمهوررئیس غلام اسحق خان اوددغه هیواد صدراعظم ښاغلي نوازشریف له خپلو مقامونوڅخه استعفاوي وکړي ،دراتلونکي اکتوبر ٦ او٨ نیټه یې دانتخاباتو لپاره وټاکله ،اوددغه هیواد د (٦) میاشتني سیاسي بحران په موده کښي پوځ په قدرت قبضه ونه لګوله

دوام لري

اهل یهودووسایل ارتباط جمعي جهان

مترجم احمدضیاء "رحیمزي"

قوم یهود که درګذشته ها مورد عذاب خداوند ي قرارګرفته امروز جهت حکمراني برجهان بشریت وعمومي ساختن فساد وفحشا درروي زمین تلاش دارد تا تسلط -کنترول خویش رابرسیاست ، اقتصاد وهمه وسایل ارتباط جمعي درجهان استوار سازد. زیرا قوم مذکور تسلط براین وسایل را وسیله مؤثر براي بدست آوردن اهداف شوم خویش مي شمارد.

جاي شك نیست که ژورنالیزم ووسایل ارتباط جمعي ،اسلحه خیلي مؤثر براي برګشتاندن رخ سیاست ، برپانمودن انقلابات واشاعه خیر وشر در روي زمین مي باشد که همتایي دراینکار ندارد.

بادرنظرګرفتن همین حقیقت امروز یهودیان مالك مشهورترین آژانس " رویتر" اسیوشیتید پریس " (که جراید ومجلات زیاد امریکا تحت اثر آن به نشر مي رسد) ، "یونایتید پریس انترنیشنل " وغیره رانام برد.

بعد از تصرف آژانس هاي خبر رساني ، قوم یهود برژورنالیزم طباعتي جهان یورش برد ، وبروي همین دلیل است که امروز جریده " تایمز " یکي ازسابقه ترین ومشهورترین جراید انګلستان ملکیت " روبرت میردوګ " یهودي مي باشد . " روبرت"این اخبار راهنګامي که اخبارمذکو دچار مشکلات شدید اقتصادي بود، خریداري کرد. برعلاوه این " روبرت میردوګ" جریده مشهور دیګر بریتانیا (سندي تایمز" ودوهفته نامه انګلیسي " سن " و" نیوزآف دي ورلد" رانیز تحت ملکیت خویش دارد.

یهودي مذکور تنها مالك چند جریده واخبار دربریتانیا نه بلکه مالك چند جریده واخباردرآسترلیا ،کاناداوامریکا نیز مي باشد.

برعلاوه جراید ونشرات متذکره ، عده زیادي ازاخبارات وجراید دیګرانګلستان نیز تحت کنترول وملکیت یهودي ها قرار دارد که مشهورترین آنها روزنامه "دیلي ایکسپرس" ،"دیلي میل " ،"دیلي هیرالد" ،"ایوینینګ نیوز " ، " سندي ایکسپرس "،"ویك اینډ " وعدهٔ دیګر مي باشد.

بعدازانګلستان حالات امریکارا تحت مطالعه قرارمي دهیم .درامریکا روزانه تعداد بي شماري از جراید ،روزنامه هاومجلات انتشارمي یابد، که برنصف آن یهودیان کنترول کامل دارند ودرنصف باقیمانده هم اثر ورسوخ آنها هویداست . اخبار معروف امریکا"نیویارك تایمز" ملکیت " اودلف اوش " یکي ازسرمایه داران یهودي است که درسال ۱۹۸٦ آنراازمالك قبلي اخبار " هنري رانموند" خریداري نموده است.

به همین ترتیب اخبارات " واشنګتن پوست "،"دیلي نیوز "
،" نیویارك پوست " وهفته نامه هاي مشهور"تایم " و"نیوزویك" که برعلاوهٔ امریکا درسراسرجهان مطالعه مي شوند درملکیت یهودیان قراردارد.

به همین ګونه درفرانسه هم یهودیان اثرورسوخ کافي برجراید ومطبوعات دارند. وبه همین دلیل است که امروز آنها بر سیاست جهاني حاکم اند. ونیروهایي همچو امریکا ،اروپا وروسیه به سازآنها مي رقصند. کامیابي رئیس جمهور ، درانتخابات صدارتي ایالات متحده امریکا منحصر به تعاون یهودیان است.

کشورکوچکي همچو " اسرائیل " امروز بحیث چلنجي درمقابل جهان اسلام مطرح است.

نه تنها این بلکه قوم یهود تحت پوشش ژورنالیزم ومطبوعات درپي بدنام کردن اسلام وجهان اسلام وپخش ونشر فساد وبي حیایي درجهان است.

ژورنالیزم یهودي که امروز جهت ومسیر سیاست جهاني رامتعین مي سازد، ژورنالیزمي است که تنها وتنها مفادات یهودي ها را درنظر دارد وهرخبر مربوط به قوم یهود را اهمیت مي دهد . اګر یکي ازستاره هاي فاحش سینماي " هالي وود" مربوط قوم یهود به قتل برسد خبرآن باتیترهاي بزرګ وعناوین درشت به چاپ مي رسد ، وژورنالیزم یهودي به خاطر این قتل فریاد مي کشد ، ولي اګر درجایي مسلمانان قتل عام مي شوند ، یاظلم وستمي برآنها رواداشته مي شود ، ژورنالیزم یهودي درمقابل آن خاموش نشسته وصدایي ازخود برنمي آورد.

به همین ترتیب مانند مطبوعات – قوم یهود برسینما ،تلویزیون ،تیاتر وحتي اعلانات تجارتي هم کنترول دارند ، ودرتلاش ازبین بردن معیار هاي اخلاقي جوامع اسلامي ازآن طریق اند.

" هالي وود " یکي ازاداره هاي بدنام فلمسازي درجهان است که اکثریت محصولات آنرا فلم هاي تباه کنندهٔ اخلاق اجتماعي تشکیل میدهد که یهودیان (۹۵) فیصد کارکنان این اداره را تشکیل مي دهند.

مشهور ترین یهودیان دراین اداره " بورب هوب "، "کیرك دګلس "، " توني کیرتس "، " الیزابت " وغیره مي باشند.

همچنان برتلویزیون امریکا کنترول یهودیان آشکاراست.

شبکه هاي تلویزیوني " اي – بي ، ایس" ، " س – بي – ایس " و" این – بي – اس " ملکیت یهودیان است.

نامه هاي وارده

نامه یی ازامریکا

بسلام واحترامات خویش راخدمت پیاوران مجاهد کارکنان عزیز اخبارشهادت تقدیم داشته ،صحتمندي همه شماراهمراه باموفقیت مزید درعرصه امورمحوله ازبارګاه ایزدمتعال خواسته وخواهانم .

کارکنان محترم اخبارشهادت ،چون خودم مهاجر درامریکامي باشم ودوست ام دراین روزها روانه پاکستان است ، خواستم یك قطعه نامه ي به شرح ذیل بشما ارسال دارم تاباشد درنامه هاي وارده اخبارشهادت این نامه ام را به نشر خواهید رسانید.

من یکي ازمهاجرین افغان هستم ودرامریکابسرمي برم.قبلاً درافغانستان به شغل تجارت مشغول بودم،بدون آنکه عضویت یکي از تنظیم هاي جهادي راداشته باشم باآنهم ازجریانات سیاسي موجوده درافغانستان بي اطلاع ودورنمانده ام.

جریده شهادت که بعضاً به ندرت به دسترس ام قرارمیګرد وتاندازه واقعیت هارا انعکاس مي دهد علاقه زیادبه مطالعه آن دارم،بخصوص بخش انعکاسات یانامه هاي رسیده،من نیز خواستم تامضموني رادرارتباط اشخاص استفاده جو دراین شرایط بنګارم وبدست نشر بسپارم.امید آنرا به نشر برسانید.

همه میدانیم که درافغانستان دولت اسلامي استقراریافته است اما درچنین شرایط دولت دریك تاریکي محض قرارګرفته وقادر نیست تااشخاص را که دراطراف آن قراردارد تشخیص هویت نماید.

برماوشما وهرفرد مسلمان افغانستان که احساس پاك دربرابر مردم وملت افغانستان دارند لازم است تاچهره هاي واقعي چنین اشخاص استفاده جوخاین رابانعکاس توورقلم روشن وبراي دولت نوبنیاد اسلامي ومردم افغانستان تشخیص هویت نمایند.

(...) یکي ازاین اشخاص است که قبلاً دروزارت مالیه به حیث ماموراًیفاي وظیفه مي کرد با روي کارآمدن یکي ازاقارب اش در وزارت مالیه،موصوف دربستهاي بلند ترقرار ګرفت ودرجریان وظایف خویش ازهیچ ګونه، رشوه ستاني و اختلاس دریغ نکرد که فرد ،فرد مامورین وزارت مالیه ازآن انکار نمي نمایند ،بارو بکارشدن دولت خلق وپرچم باز هم درقالب آن ها خود راجا داده به وظیفه ماموریت ادامه داد. ازاینکه همه پرسونل وزارت مالیه ازشخصیت موصوف شناخت کافي داشتند بعداز چندي وي رابه تقاعد سوق دادند .چون نامبرده شناخت اندکي که بامن قبلاً حاصل کرده بود استفاده نموده به خودچهره حق به جانب ګرفته تااینکه به صفت کارکن مغازه اینجانب که درشهرنوکابل موقعیت دارد ایفاي وظیفه نماید،موصوف رابه صفت کارکن پذیرفتم بعدازطي چندي مغازه ام ازطرف وي به سرقت برده شد ،موضوع را به مرجع مربوطه اش اطلاع دادم هیئت تحقیق موضوع رابررسي نموده ووي رابه صفت سارق مغازه ام محکوم به حبس ٥ سال ګردانید که موضوع ازطریق تلویزیون وبرنامه هاي خبري هم نشر ګردید . باز هم دراثر فساد اداري حکومت وقت ،موصوف توانست بادادن رشوت به مقامات ذیصلاح حبس تنفیذي خود را به حبس تعلیقي مبدل سازد ورا هي دیارمهاجرت به پاکستان شد که ازین مسئله بیش ازدوسال نمي ګذرد.

باپیروزي مجاهدین درافغانستان موصوف درلباس مجاهد قرارګرفته وخویش را به طرق مختلف به چوکي مستوفیت رسانیده است وفعلاً مستوفي است.

جاي افسوس دراینجاست که چنین اشخاص درزمان حکومت کمونیست ها نسبت نداشتن صداقت دراجراي وظایف ازوظیفه سبکدوش مي ګردند .اما فعلاً دولت اسلامي بدون درنظرداشت سابقه جهادي ،تقوي اسلامي اشخاص متذکره رادرراس یکي ازارګانهاي مهم دولتي قرارمي دهند،ازاینکه خوشبختانه برادرانجنیر حکمتیار صاحب به حیث صدراعظم کشورهستند،من تقاضامي نمایم جلو تقرري همچو اشخاص نامطلوب رادرادارات دولتي بګیرند تاخداي ناخواسته حکومت جدید موردانتقاد مردم قرارنګیرد.

بااحترام
حمیدي – سوتاندار – امریکا

شهادت :

آقاي حمیدي ازمحبت وعلاقمندیکه باشهادت ازآن فواصل دورابراز ګردید ممنون.نامه شما را به نسبت اینکه درجریان کارها اصلاح بیاورد چاپ کردیم ولي اسم فرد موردنظر شمارابه لحاظ اینکه‌انتقاد راازمسایل واهداف اجتماعي بمسایل شخصي نکشاند ویااینکه ممکن است به اثر هجرت وهمکاري بامجاهدین درسلوك وعمل آن شخص تغییرمثبت صورت ګرفته باشد،حذف نمودیم .

مطمئنیم که شما هم نامه تانراتنها بخاطرمخالفت شخصي باآن مستوفي صاحب ننوشته اید،هدف تان درنهایت این است که درامورګزینش وپذیرش مامورین ومسؤلین ادارات حکومت اسلامي نظم وضوابط قایم شود واشخاص مستحق ولایق بکار ګماشته شود .

امادررابطه بانامه شما یك موضوع تاحدي مبهم مي ماند که وقتي ازسوابق آن آدم کاملاً اطلاع داشتید ومیدانستید که فرد امانت کار و حق به جانب نیست چرا به چهره حق بجانبي که دربرابرشما ګرفت اعتمادکردید واموومغازه تانرابوي سپردید.

ازمکاتبه تان باردیګر امتنان داریم.

ګل ارمان

دراغلو لیکونو په لړکي دښاغلي (اش -شاکر)لیك دشهادت اداري ته پدي ډول رارسیدلي چې خپلو لوستونکوته یې وړاندي کوو:

بعد له سلام څخه زه دشهادت ورځپاڼي دایمي لوستونکي یم زه غواړم چې دشهادت ورځپاڼي ته یوڅه ولیکم.

۱– دکابل په راډیوکښي تول پخواني کمونستان کارکوي اوتول نطاقان یې کمونستان دي اوهغوي دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم اودحزب اسلامي دامیرپه خلاف توهین آمیزه الفاظ استعمالوي اودي دتولو ستونزو عامل ګڼي او په دي ترتیب سره دوي غواړي چې ددولت اوحکومت ترمنځ اختلافات پیداکړي نوزه دمسؤلو مقاماتو څخه غواړم چې دغه کمونست کسان بدل اوددي پرځاي مجاهد ،مسلمان اودیانت دار،مخلص ،مصلح اواهل کسان مقررکړي ،آیا په تول افغانستان کښي نورنطاقان اومبصرین نشته چې تاسي هماغه کسان نطاقان اومبصرین مقررکړي دي چې ترپرونه یې دروسانو غلامي کوله اوس دمجاهدینو ترمنځ اختلافات پیداکوي اودافغانستان اوداسلام دښمنان پري خوشحاله کوي.

اوبیا دي کارته ډیر حیران یم چې په اخبارونو اودراډیوګانو دلاري اورم چې دافغانستان داطلاعاتو اوکلتوردوزارت سرپرست محترم (قریب الرحمن سعید) دي نوبیا ولي دحزب اسلامي اودهغه دمجاهد قیادت په خلاف دکابل راډیوتلویزیون له لاري ناروا تبلیغات کیږي ایامحترم وزیرصاحب هسي په نوم اویادګاغذ په مخ وزیردي اوکه نه هغه ولي دغه کسان نشي اصلاح کولي.

(سعید صاحب) چي دحزب اسلامي یوتکره غړي دي هغه باید ددغسي کسانو مخنیوي وکړي اود راډیو اوتلویزیون لپاره داسي زمینه برابره کړي چې دافغانستان دټول ملت نمایندګي وکړي.

۲– باید دپیام آزادي راډیو تلویزیون صحیح فعال شي چې دټول افغانستان خلك تري استفاده وکړي اوحتي خارج ملکونه یې هم خپروني واوري او ددي وخت باید زیات شي اوس په پیښورکي چې اکثرمهاجرین اوافغانان اوسیږي هغوي خودپیام آزادي راډیو بالکل نشي اوریدلي ځکه چې دلته صحیح نه نیول کیږي خودکابل راډیو هم په ډیر مشکل سره معمولي نیول کیږي .

باید دي ته هم پوره پاملرنه وشي چې داډیرضروري شیان دي .

والسلام
ستاسي ورور (ش : شاکر)

شهادت :

ګران ورور ش – شاکر!

لیك اوسلامونه دي راورسیدل .زمونږ له ارخه هم سلامونه ومنه!

وروره !

هغه څه چې تاخوروي موږ هم خوروي اوته چې دکوم څه لپاره په انتظار اوارمان یې موږ هم ورته سترګي په لاره یو.

به ګروپ هاي غیرمسؤل اجازه ګشت وګذارداده نشود

محترم انجنیر میرویس " سادات" خواننده شهادت بعدازسلام، شکایت ودرعین حال چشم دیدي رابه این مضمون ارسال کرده است .

درمقابل شفاخانه ننګرهار وڅارنوالي یك ورکشاپ ترمیم بادپکه وآلات برقي ساخته شده افرادي که درین ورکشاپ کارمیکنند ازمردم کابل اندومردم وامام مسجد منطقه‌که "مسجد بابري ها" میباشد، این افرا درامي شناسند وبه اینکه همه مسلمان اندوخدمتګارمردم اند،تصدیق میدارند. مي آیم به اصل مطلب .

چندي قبل یك موتربااافرادمسلح به ورکشاپ آمده وتقاضاکردندکه یکنفربراي ترمیم پکه باآنهابرود . یکي ازبرادران ورکشاپ سامان لازم راګرفت وسوارموترشد . موتر که بطرف پل بهسودرحرکت بود ، راه اصلي را تغیرداده به راه نامعلوم درحرکت شد. وقتي انجنیرورکشاپ دیدکه موتربطرف دیګردرحرکتست که اصلاً خانه وآبادي نیست ، ازدریوروافرادمسلح خواست تاموترراتوقف بدهند. ولي موتربجاي اینکه توقف کندحرکت خودرابه صوب نامعلوم زیادکردتااینکه به پوسته یي رسید، پوسته موترراتوقف دادوازافراد مسلح پرسیدکه کجامیروید؟ یکي ازآنهابه زبان پشتوګفت :" داکمونست دي " ولي مجاهدین پوسته به آن افراد مشکوك شده انجنیرراازچنګ آنهاآزاد ساختند که نامبرده باشتاب دوباره خودرابه ورکشاپ رسانید .

من چون فامیل وخوداین انجنیررامیشناسم که مسلمان است ودرراه جهاد شهیدداده وخدماتي را ایفانموده ، لذا این نامه رانوشتم وازقول اردوي ننګرهار ودیګرمراجع امنیتي ننګرهارتقاضا دارم تادرحصه حمل سلاح محدودیت هاي جدي وضع کنند وازګشت وګذار ګروپهایي غیرمسئول ومخل نظم وامنیت جلوګیري نمایند .

ازدنیاي فال بیني

واين مربوط به همكاري احزاب است ،اگر همه نيروها صادقانه درزمينه برگزاري انتخابات همكاري كنند هيچ مانع ومشكلي بوجودنميآيد . امنيت تامين مي شود همه موانع سر راه برداشته مي شود . اگر مانعي وجود دارد مخالفت احزاب است، اگر مشكلاتي خلق مي شود ،اين احزاب خلق مي كنند. اين ها بايد تعهد خود را درحرم پهلوي خانه خدا بياد بياورند ،ازعقب نشيني ازين تعهد بزرگ تاريخي اجتناب كنند و عجيب است كه ما امروز بگويم كه همه شرايط براي انتخابات مساعد نيست .درائناي كه درحرم درخانه خدا بودند بايد مي گفتند واز امضا برآن معاهده اجتناب مي كردند .

تا حال آنها موافق بودند امروز عجيب است كسي مخالفت بكند. مسئله سرشماري درافغانستان مسئله مهمي براي انتخابات نيست . بدليل اينكه ماميتوانيم راه ها يي را براي انتخابات بازكنيم كه اين مشكل به سادگي حل شود. مثلاً هرحوزه انتخاباتي هيئت مشتركي داشته باشد ، اين هيئت مشترك وظيفه دارد كه لست كساني راكه مستحق شركت درانتخابات اند به توافق همه در هرحوزه انتخاباتي تهيه كند . بعد برويت اين لست ،شوري دايرشود ، تذكره ضرورشمرده نشود . درپاكستان عده اي ازاحزاب اصراردارند براينكه ،ضرورت شناختي كارت ياتذكره براي راي دادن منتفي شود بدليل اينكه يك تعداد زياد مردم شناختي كارت ندارند ،لزومي ندارد كه شناختي كارت ضروري شمرده شود ،برويت همان لست راي بدهند. لست بايك نشاني كفايت مي كنند.

نشاني انگشت دست ، هركس ميآيد برويت لست كارت ميگيرد راي ميدهد . مسئله بسيار مشكلي هم نيست.

قابل حل است. ما انتخابات را بخاطر اين ميخواهيم كه دركشورماامنيت تامين شود بدين وسيله جنگها ختم شود ،پس ازين كسي ازطريق توسل به توپ وتانك بقدرت نرسد وبه اين خاطر است كه مابه انتخابات اصرارداريم و حالا اگر مابگويم كه براي انتخابات امنيت ضروراست اين احزاب امنيت راتامين بكنند. برگزاري انتخابات ومراجعه به آراي مردم خودش به تامين امنيت تاثيردارد ، مردم اينطورتوجيه مي كنند كه پس ازين رسيدن به قدرت و اقتداربراي كسي ازطريق جنگ ممكن نيست وقتي همه تعهد كردند كه به آراي مردم مراجعه شود ، خودبخود ضرورت جنگ راختم مي كند ، من باوردارم ازطريق انتخابات است كه مادركشور خود ميتوانيم صلح وامنيت بكلي وسرتاسري تامين كنيم وجلو جنگها رابگيريم ،اصرار مابرانتخابات به همين خاطر است كه وسيله جنگهادرافغانستان براي هميشه خاتمه يابد. تشكيل حكومت ، انتقال قدرت ازيكي بديگري ،ازطريق مسالمت آميز وصلح آميز وازراه مراجعه به آراي مردم صورت بگيرد.

صدراعظم كشور دررابطه با اينكه كشور هاي همسايه ميتواند درپروسه انتخابات همكاري نمايند وازنفوذ شان بالاي احزاب كارنگيرند فرمودند:

اين سه كشور كه ضامن وشاهد ميثاق مكه ومعاهده جلال آباد بودند كه دراسلام آباد درتهران ودرمكه مكرمه باردیگري نسبت به اين مسئله بحث صورت گرفته وزعماي سه كشور به عنوان ضامن وشاهد درپاي معاهده امضاكردند ،مااززين سه كشور خواهانيم كه در رابطه بابرگزاري انتخابات درافغانستان ازطريق فرستادن هيئت مشتركي وتشويق همه احزاب والتزام به معاهده شان باماكمك كنند. كشور ها هم تعهد كردند كه هيئت هاي مشترك را به افغانستان ميفرستند تااين تعهد رابه همه ياد آورشوند ودرزمينه برگزاري انتخابات كمك كنند.

يك سوالي كه ازمحترم صدراعظم كشور واميرحزب اسلامي صورت گرفت درخصوص عودت مهاجرين بود، سوال شد.؟

دررابطه باعودت مهاجرين طوريكه شنيديم درتهران جانب افغانستان ايران و ملل متحد پيماني امضاكردند.كه مهاجرين دوباره به وطن شان برگردند ،درقسمت عودت مهاجرين تبصره شده كه گويا درافغانستان شرايطي كه بايد مهاجرين برگردند مساعدنيست. ايشان فرمودند :

درايران وپاكستان درموردعودت مهاجرين صحبت هايي صورت گرفته ، موافقت نامه اي امضاشده موافقتنامه سه جانبه دراسلام آباد وديگري درتهران امضا شدبه شمول ملل متحد كه عودت مهاجرين به كشورشان داوطلبانه طبق

مسئله سرشماري درافغانستان مسئله مهم براي انتخابات نيست بدليل اينكه ماميتوانيم راه هاي رابراي انتخابات بازكنيم كه اين مشكل به سادگي حل شود

نورم هاي ملل متحد بدون اجباروفشار صورت خواهد گرفت.

ملل متحد دررابطه باتامين مصارف مهاجرين كه برميگردند به تعهدات خو دعمل خواهد كرد وبه مناطقي كه درآنجا امنيت است ،عودت مهاجرين بااشكالي روبرونميشود ، مهاجرين به تدريج به اين مناطق عودت خواهند كرد. اين معاهده عودت نامنظم مهاجرين راتنظيم مي كند موانعي راكه درين راه وجود داشت و فشاريكه درين مورد ايجادميشد آنرا ازبين مي برد بركسي نبايد فشاري اعمال شود ونه برعودت مهاجرين مشكلاتي ايجادشود و هم به شكل نامنظمش صورت بگيرد . به مهاجرين بايد كمك شود ، مشكلات حمل ونقل وكرايه وسفريه شان رفع شود درقسمت كمك هايي كه تامدتي بتوانند مشكلات آنها را رفع كند به آنها صورت بگيرد به شكل منظم رضاكارانه به وطن عودت كنند.

س : يوه پوښتنه دصلاحيتونو دويش په اړوند ده هغه دا چي كه څه هم داسلام آباد لوظنامي په ضميمه كي درئيس دولت اوصدراعظم صلاحيتونه ټاكل اوواضح شوي خو اوس داسي ښكاري چي دكابيني اوصدراعظم اكثر مقرري اوپريكړي ددولت درئيس له خوا نه منظوريږي اوهسي معلق پاتي دي ، كه چيري داوضع همداسي ادامه وكړي ،مشكلات به راولاړنه كړي ؟

ځواب : مشكلات ډير دي موږ غواړو چي په پوره اوسره سينه برخورد وكړو پدي خاطر چي بي امنيتي ،تشنج اوجگړي ددښمنانو په گټه دي ، هماغه دشراوفساد قوتونه چي په كمين كي دي اوخپله بقاپه جنگ كي لټوي اوله جنگ نه تغذيه كيږي ،جنگ ددوي تاولي موجوديت تضمينوي دوي ته موقع په لاس ورنه شي اوبايدي موفق نشي چي دجگړي اوربيا بل كړي.

كوښښ كووچي په صبر دقضاياووسره برخوردوكړوداسلام آباد په معاهدي كي درئيس جمهور اوصدراعظم صلاحيتونه كاملاً تفكيك شوي دي اجرائيوي او اداري صلاحيتونه ټول كابينې ته سپارل شوي او درئيس جمهور صلاحيتونه هم مشخص شوي اوپه هغه پوري صرف دقضاتوتقررات هغه هم دصدراعظم په مشوره اودپوځ دقوماندانانو تقرر هغه هم دصدراعظم اورئيس جمهور په توافق بايد ترسره شي.

نوري مقرري قطعاً په رئيس جمهور پوري مربوط ندي.

دمعاهدي له مخي ټول اداري اواجرائيوي صلاحيتونه كابينې ته سپارل شوي.

متاسفانه ځيني عناصر داسي دي چي له هرفرصت نه په استفادي سره غواړي چي اختلافات راولاړكړي اودنزاع اوكشمكش باعث شي خبره ترجگړوپوري ورسوي . اميد دي چي دامشكل هم حل شي.

اسرائيل اواردن دسولي دتړون په شرايطوبوي موافقي ته نږدي شوي

تل ابيب د وري ۲ مه

اردن وايي هيئت به بي دمنځني ختيز دسولي دخبروپه (۱۱) پړاوكي چي په راتلونكي هفته كي په واشنگټن كي پيل كيږي گډون وكړي.

ربوتونو ويلي چي اردن اواسرائيل دسولي دتړون په شرايطو باندي بوي موافقي ته نږدي شوي دي.

صدراعظم عبدالسلام المصالي داخبره تاييدكړي ده چي اردن به داسرائيلو سره ترهغي پوري موافقه امضانكړي ترڅوچي په نورروموضوعاتو كي پوره پرمختگ نه وي شوي .

گورجستان اوروسيه دخپلو اقتصادي اوسياسي اړيكو په باب يوتړون لاسليكوي

تفليس دوري (۲) مه

دگورجستان مشرايدوارد شواردنادزي وايي چي گورجستان اوروسيه په اقتصادي اوسياسي اړيكو باندي په يوه پراخه تړون لاسليك كونكي دي.

په مسكوكي دجمهوررئيس يلتسن سره ترليدو وروسته نوموړي اتيار تاس خبري آژانس ته وويل چي داتړون به په راتلونكي مياشت كي لاسليك شي.

په مسكوكي دبي بي سي خبريال وايي چي كه څه هم دشواردنادزي مخالفينو ده په ضد غندني شروع كړي دي مگر بيا هم دته مهمه ده چي دروسانو سره داډول تړون لاسليك كړي.

دوديپلومات عراقي پس ازپناهنده گي سياسي دربريتانيا تصاميم شان راتشريح كردند

دو ديپلومات عراقي كه بدنبال پناهندگي سياسي دربريتانيه هستند دريك كنفرانس مطبوعاتي درلندن دلايل اين تصميم خود راتشريح كردند .

يكي ازاين دو " هشام ابراهيم الشامي كه قبلاً سفير عراق دركانادا بود . گفت : آنها باائتلاف مخالفين رژيم عراق درلندن متحد خواهندشد، تادولتي بسازند كه درآن حقوق بشر رعايت شود ومردم بتوانند درمورد سرنوشت خود تصميم بگيرند. طبق گزارش وي وديپلومات ديگري كه قبلاً سفيرعراق درتونس بود اجازه پيداكردند فعلاً بااعضاي خانواده شان دربريتانيا اقامت گزينند.

معلومات طبي

دكولرا ناروغي

تعريف : كولراياويابوه حاده اسهالي ناروغي ده چي دويبريوكولرا (VIBRIOCHOLERAE) مكروب پواسطه چي په وروكولموكي خاي نيسي منځ ته راځي .

داناروغي دډيرشديداسهال په منځ ته راوړلو، اوپه ډيرسرعت سره دبدن دمايعاتواوالكترولايتوپه كموالي متصف ده، دغه رازداناروغي داپيډيميك خاصيت لري يعني په يووخت كي په يوه لويه ساحه كي خلك په ناروغي اخته كيږي .

اسباب اواپيډيميولوژي :

داناروغي دويبريوكولرا (VIBRIOCHOLERAE) دارگانيزپواسطه چي گرام منفي اوديوواحد فلاجيل لرونكي بسيل دي منځ ته راځي .

داناروغي دنړي په جنوبرختوكي لكه غربي بنگال اوبنگلديش كي په موضعي (انډيميك) تقريباً ديوي نيمي پيړي لپاره موجوده، همدارنگه داناروغي په اپيډيميك (EPIDEMIC) ډول په جنوبي اوجنوب ختيزه آسياكي پيداكيږي ، ددي ناروغي اومي اوديري تازه پانډيمي (په يووخت كي دخوقارو په هيوادوكي دعين ناروغي منځ ته راتلل) په ۱۹٦۱ او ۱۹۸۱ كلو په منځ كي په شمال كي تركوريا اوپه لويديځ طرف كي په ټوله افريقا اوجنوبي اروپا كي وسعت موندلي و . ددي ناروغي ډيره لويه اپيډيمي په ۱۸٦٦ - ۱۸٦۷ كلوكي په غربي هيوادوكي منځ ته راغلي وه .

دكولرا Sporadic (ځانگړي) واقعات دهغوتيم پخته غذاگانوڅخه چي دجهيلونو اوندونوداويوڅخه لاس ته راوړل كيږي منځ ته راځي . دغه رازپوتعداد واقعات ئي ددغواويودحښلوپواسطه پيداكيږي .

ددي ناروغي داپيډيمي لوي اكثريت دملوثواويوپواسطه منځ ته راځي همدارنگه دغذامستقيم تماس دمتنتوغايطه موادوسره هم په يوه كورني كي دكولرا دناروغي دانتشارسبب كيږي .

كه څه هم ناقصه حفظ الصحه دكولرا دناروغي ددوامداره موجوديت لمرني مسئول گڼل كيږي مگرځني شخصي اوانفرادي فكتوروته هم انسانان ددي ناروغي مصابيدوته مساعدگرځوي لكه دمعدي دتيزابوښتي كموالي بامطلق نشتوالي .

په انډيميك نواحيوكي لكه بنگله ديش په ماشومانوكي كولراديو برجسته ناروغي په توگه عموميت لري . ديوي احصائي له مخي هغه ماشومان چي عمرئي ديوه نه ترپنځه كلودي دكولراواقعات پكي لس چنده دهغوماشومانوپه نسبت چي عمرئي حوارلس كاله باترډي پورته وي زيات تثبيت شوي دي . په هرحال كله چي ناروغي دانډيميك نواحيوڅخه نورو ساحوته سرايت وكړي نودناروغي دشيوع په لمړيو وختوكي په غټانوكي ئي وقوعات نسبت ماشومانوته لږڅه زيات وي .

دناروغي پتوجنيسيز(په بدن كي دناروغي منځ ته راتلل) :

دكولراارگانيزم عموماً دخولي دلاري دملوثو اويودخكلو اوياد غذائي موادو اوميوورسره چي په انسان الوده وي هضمي جهازته داخليږي اوپه وروكولموكي خاصتاً دايليوم په برخه كي ځاي نيسي . كله چي دمكروبو تعداد زيات شي نودناروغي اعراض شروع كيږي (تقريباً ۱۲ - ۱) .

دكولرا ارگانيزم يوډول زهري ماده چي معناي توكسين ورته وائي اودكولرا په ناروغي كي دټولو پاتوفزيولوژيك كډوډيومسئون دي افرازوي دازهري ماده دكولموپه جدارتاثيركوي اويوډول انزايم چي اډينيليت سيكليز(Adenylate cyclose) نوميږي افرازوي داانزايم په ځېل وارسره دحجراتو په داخل كي يوه بله كيمياوي ماده دادينوزين ۳ ، ۵ مونوفاسفيت دزياتوالي سبب كيږي، داورو ستي ماده دوږوكولمودټولو برخوڅخه دايزوتونيك مايع دافرازسبب كيږي . دكولرا دارگانيزم زهري مواددكولموپه جداراويادبدن په نوروبرخوكي دكوم واضح تخريب سبب نه گرزي .

دكولرا دكاهل (غټ) ناروغ غايطه مواد نږدي ايزوتونيك دي چي دسوډيم اوكلورايدغلظت ئي دپلازمادغلظت نه لږڅه كم وي، دباي كاربونيت غلظت ئي دپلازما دباي كاربونيت دغلظت دوچنده اودپوتاشيم غلظت ئي دپلازماپه نسبت ۳-٥ ځله زيات دي .

په كولراكي دزيات مقدارمايع اوالكترولايتودضياع په وجه هايپووالميك شاك ، اسيدوزس چي دقلوي دكموالي په سبب منځ ته راځي پيداكيږي .

دناروغي كلينكي لوحه : كله چي ناروغ دكولرا ارگانيزم واخلي نو ۱۲- ۲٤ ساعته وروسته دناروغي اعراض شروع كيږي ، ناروغي په ناڅاپي ډول دبي درده اسهال سره شروع كوي، دناروغي شدت په لمړني مراحلوكي ډيرزيات وي يعني په لمړي څلېرويشت ساعتوكي تقريباً هرساعت ناروغ يوليترايزوتونيك مايع چي الكترولايت هم لري داسهال دلاري ضايع كوي، چي پدي ترتيب ناروغ ډيرژرهايپووالميك شاك ته ځي .

كانگي عموماً داسهال نه وروسته شروع كيږي ولي كله كله هم كيداي شي چي داسهال نه مخكي منځ ته راشي، كانگي په ډيرزورسره نه وي اودكانگوسره دل بدي هم نه وي، دبدن دمالگي دزيات كموالي له كبله شديدعضلي دردونه پيداكيږي دناروغ مخ اوشونډي آبي رنگه وي، گيډه ئي ډيره ننوتي ښكاري، دلاس نبض معدوم وي ، دزړه حركات ډيرسريع اودناروغ پوستكي رڅ، سترگي ئي ننوتي ښكاري ، دناروغ اوازضعيف وي .

دناروغي كورس د۲-۷ ورځويوري ادامه پيداكوي، دناروغي وروستي تظاهرات دمعاوضوي مايع اوالكترولايتوپه مقدارپوري اړه لري كوم چي ناروغ ته تطبيق كيږي يعني كه هرڅومره ضايع شوي مايعات اوالكترولايت په مناسب ډول تطبيق شي ناروغي په سه ډول سره والي مومي اوكوم خاص عوارض منځ ته نه راوړي، اوكه دمايعاتو اوالكترولايتومقدار كافي نه وي .

اوتداوي په اوليه مرحله كي شروع نشي نوناروغي خطرناكه سيراختياروي ، چي په ناروغ كي هايپووالميك شاك ، اسيدوزس اوډيښتوگو حاده عدم كفايه دمرگ مهم اسباب دي .

تداوي : موفقانه تداوي پوري دمعدي معائي لاري دضايع شوي مالگي، مايع اوالكلي په عاجل ډول كي معاوضي پوري اړه لري.

ادامه دارد

د شهيد انجنيرشاه محمود دشهادت لومړي تلين په مناسبت

زماني دهردور په گل بڼ کي ډير ښکلي اوعطرين گلونه زرغونيږي چې حسن اوښکلا له برکته يي بڼ ته لا يات شهرت وربه برخه اوښوال و باندي دتل لپاره وياړکوي دگران هـ واد دښکلي بڼ ددي ښکليو گلونوڅخه يو هم ډير ښکلي گل شهيد وروور الحاج انجنير شاه محمود د مرحوم حاکم صاحب جان محمد خان زوي چي له تن نه پنځوس کاله وړاندي په ۱۳۲۳ هـ ش کال کي دگران هيواد دجنوب ختيزي برخي زرمت داورياخيلو دبيگوالو دکلي په يوه ډيره متدينه اومخوره کورني کي په لمړي ځل خپلي سترگي سپړلي لمړني زده کړه بي له خپل متدين اومخورپلار څخه پيل اوبيا ته کلني کي لمړني ښوونځي ته شامل شوي چي داشپږکلنه زده کړه بي دزرمت په ولسوالي کي سرته رسولي د ۱۳٤۰ هـ ش کال کي دخوست په ميخانيکي ښوونځي کي شامل شو چي په ۱۳٤۲ هـ .ش کال بي دا دري کلنه زده کړه هم په خورابنه ترگه سرته ورسوله اوسم دلاسه دکابل

ميخانيکي ښوونځي ته دزده کړي لپاره ولاړ د ۱۳٤۵ هـ .ش کال ددريم فصل په پاي کي بي ددولسم ټولگي بري ليك په خورابنه درجه ترلاسه کړ اودخپل لياقت له مخي په هندي ښوونځي کي دښوونکي په صفت مقرر شو.

دوه کاله وروسته دلوړو زده کړو لپاره دانجنيري پوهنځي ته شامل شو دانجنيري دپوهنځي اوږده دوره بي په خورابنه درجه سره پاي ته ورسوله نوموړي د خپل لياقت له مخي دانجنيري په پوهنځي کي داستاد په صفت ومنل شو.

شهيد الحاج انجنير شاه محمود خان دتره کي کرغيړني کودتا دراتگ سره سم دټولي کورني سره يوځاي پاکستان ته په هجرت راپه کده شو چي پاکستان ته په رسيدو دحزب اسلامي امارت له خواپه لمړي ځل دميرانشاه دنمايندگي دآمر په صفت وټاکل شو اووروسي په ۱۳۵۹ کال کي دحزب اسلامي په مالي اواداري رياست کي دمهاجرينو دآمر په صفت وگمارل شو.

دبروخت لانه ؤ تيرشوي چي دحزب اسلامي په تشکيل کي دمهاجرينو دمشکل دښه حل اوبررسي په خاطر دمهاجرينو لپاره مستقل رياست منظورکړي شو اوشهيد انجنير شاه محمود خان دهمدي رياست دمعاون اوسرپرست په صفت وټاکل شو. دتنظيمونو داتحاد په سطحه هم نوموړي وروور دمهاجرينو دآمر په صفت خپله اسلامي دنده پرمخ بيوله .

شهيد الحاج انجنير شاه محمود خان پوره دولس کاله دمهاجرينو په رياست کي دنوموړي رياست دسرپرست اومعاون په صفت خپله ورسپارلي اسلامي دنده په ډير اخلاص ،صداقت ،ديانتداري اوامانتداري سره دژوندترورستي سلگي پوري سرته ورسوله .

دزرگونو مهاجرو کونډو،يورو،يتيمانواو بيوزلو دخدمت کولو په لاره کي بي نه ستړيدونکي هلي ځلي کړيدي . نوموړي شهيد په دفتراوله دفتر نه بهرپه کورکي هم دمهاجرينو دمشکل دحل نه خان نه د ي سپمولي په ډير ورين تندي بي دهغوي دمشکل دحل به برخه کي ترخپله وسه پوري په زړه پوري اجراآت کړي دي او دډيري پراخي سيني اوحوصلي خاوند ؤ د ۱۳۷۰ هـ.ش کال په انتخاباتوکي دزرمت له ولسوالي نه نامزد شو چي درايو اچولوپه نتيجه کي بي په خورابنه درجه سره دحزب اسلامي افغانستان دمرکزي شوري غړيتوب ترلاسه کړ ۱۳۷۱ هـ .ش کال دوري دمياشتي په لمړيوورځوکي دحزب اسلامي د امير وروور حکمتيار له خوادځينوهداياتو لپاره چهار آسياب ته وغوښتل شو څودنوومهاجرينو دمشکل دحل په برخه کي ورته لازم هدايت ورکړي نوموړي دهدايت سره سم دچهارآسياب په لوروخوځيدو ولي متاسفانه خبرنه ؤ چي هغه به دمرگي په لوري خوځي.

ناخاپه دشيوکيو اوبني حصار په سيمه کي د پنجشنبي دورځي په نهوبجودا سلام اوخاوري ددښمنانو لخواپداسي حال کي چي مخکي له مخکي ورته کمين نيولي شوي ؤ ديو څه مخامخ مقاومت وروسته سخت ټپي اودشهادت لورمقام ته بي لبيك ووايه !

اناالله وانااليه راجعون .

روح دي ښاد ،جنت فردوس دي برخه

اويا ددي ترتله نيك ياته وي.

والسلام .

دافغانستان داسلامي

آباد- پيښور لاري په اوږدوکي دقاضي صاحب دسپرلي موټرڅه خرابي پيداکړه له دي امله چي وخت ضايع نشي نو قاضي صاحب په سرويس موټرکي پيښور ته ځان راورسولو ديوه بل خبر له مخي وروورحکمتيار په همدي ورځ دجمعيت علماي اسلام له مشر مولنا سميع الحق سره هم وکتل.

په کابل کی د ...

مشغول دي چي نژدېوالي راولي ،اختلافات ليري کړي، دصميميت او وروورگلوي فضا ايجادکړي اودجنگ دبياواقع کيدو احتمالات ليري اوختم کړي .

ده د لوي مسلمان اومصري مبارز شيخ عمر عبدالرحمن له سياسي پناه ورکولو په باب خپل نظر داسي څرگند کړ يو د دولت په سطحه خبره ده چي هغه به ددولت مسؤلين پکي خبره کوي ، يوزماپه سطحه خبره ده که دهغه زماترخنگ ژوند خوش وي نوزمونږ ترخنگ ديوه مسلمان په صفت اوديو مؤمن په صفت ژوند کولاي شي اواقامت غوره کولاي شي.

دهيواد صدراعظم وروورحکمتيارد ...

ولسوالي اوولايتونه بايد په همدي شان دمجاهدينو دتفاهم له لاري جوړي شي اومرکز پکي څه تشبث ونه کړي.

وروسته دهيواد صدراعظم دخپل سفر په اړوند دشوري غړوته معلومات ورکړل ويي ويل داچي دپاکستان ،ايران اوسعودي عربستان دورونو هيوادونو په بلنه ترسره شو ډير گټوراومونږ بي نتيجو ته اميدواريو هغه زياته کړه مونږ ددغوهيوادونو له مشرانو سره په مختلفو ساحوکي تفصيلي خبري وکړي هغوي هم هرنوع مرستوته پوره امادگي ښودلي .

وروسته دننگرهاروالي حاجي عبدالقدير دهيواد له صدراعظم څخه له دي امله مننه څرگنده کړه چي دننگرهار دجهادي شوري څخه بي ملاتړڅرگند کړ ،هغه وروورحکمتيار ته ډاډورکړ چي موږ به تل ستاسي ملاتړکوو اوان شاءالله داتحاد به ټينگ ساتو اومطمين يو چي ننگرهار به نه خرابيږي .

وروسته دننگرهارولايت دجهادي شوري دغړواووروورحکمتيار ترمنځ آزاد اوپه ستونزوباندي بحث وشو .دننگرهار والي داقتصادي مشکلاتو له امله دهيواد صدراعظم ته شکايت وړاندي کړ ويي ويل چي مونږ ته زياته موده وشوه چي بودجه نه ده راکړي شوي له همدي امله دجوزا دمياشتي راهيسي زمونږ ټول معاشونه معطل دي اواکثرپروژي مونيم کاره پاتي دي .

همداراز دبريښنارئيس انجنير معراج الدين ددرونتې ديندوستونزو اواوبو دکموالي اونورو مسئلو په باره کي دهيواد صدراعظم ته خپل وړانديزونه وړاندي کړل.

دهيواد صدراعظم دورونو شکايتونه اوپيشنهادونه په سړه سينه واوريدل او مربوطه څانگوته بي لازمي لارښووني وکړي.

دغرمي په ۱۲ بجودهيوادصدراعظم دجهادي شوري له خواپه ترتيب شوي ميلمستياکي برخه واخسته.

بوسنيايي مسلمانانو ته بايد ټول حقوق بيرته ورکړل شي

اسلام آباد - دزمري ۳۱ :

دپاکستان له پايتخت اسلام آباد څخه ترلاسه شوي رپوټونه وائي چي دپاکستان دبهرنيوچارو وزيرعبدالستارخان په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي ويلي چي دبوسنيادمسلمانو پرگنو دحقوقو په خوندي ساتلو کي دبين المللي کميټي بي وسي به دټولي نړي دمسلمانانودخفگان سبب شي نوموړي چي داسلامي کنفرانس دهيئت په مشري ني مسکواوبيکنگ ته سفرکړي وو اسلام آبادته له راستنيدوڅخه وروسته په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي وويل ،دبوسنيادلانجي دهواري لپاره اوس دعمل وخت دي ځکه چي پدي باب پوره اعلاميي اوپريکړه ليکونه ليدلي دي .

عبدالستارخبرياالانوته وويل چي دگڼ شمير هيوادونودانظريه ده چي دبوسنيايي مسلمانانو ټول بشري حقوق تري سلب شوي اوبايد په بيره بيرته ورکړل شي .

##

معرفي چند تن ازشهداي حوزه النصرغوربند

محمدامين (صادق) ولد عبدالله خان مسکونه قريه شبوه ولسوالي شينواري غوربند، ولايت پروان قوماندان نظامي جبهه خيبر(قاقشال) درسال ۱۳۳۵ چشم به جهان گشودوبتاريخ ۵ر۲ر۱۳٦٤ به اثربمباران طيارات روسي بشهادت رسيد .

سيداعطاولدسيدابوصالح مسکونه قريه قاقشال ولسوالي شينواري مسئول مالي جبهه خيبرقاقشال درسال ۱۳۳۸ چشم به جهان گشودوبتاريخ ۳ر۵ر۱۳٦٦ جام شهادت رانوشيد .

محمدآجان ولد چلات خان مسکونه قريه خاکسنگوشينواري غوربند قوماندان نظامي جبهه خيبر قاقشال که درسال ۱۳۳۷ تولد ودرسال ۱۳٦۷ توسط مزدوران خلق وپرچم جام شهادت رانوشيد .

دوست محمد ولدسخي محمد مسکونه قريه استامه دره شينواري قوماندان نظامي جبهه خيبر قاقشال درسال ۱۳٤۰ چشم به جهان گشوده به تاريخ ۱ر۱ر۱۳٦۹ بعدازاسارت توسط مزدوران کفروالحاد بشهادت رسيد .

الله محمد ولدجلات خان مسکونه قريه خاکسنگودره شينواري قوماندان نظامي جبهه خيبرقاقشال که درسال ۱۳٤۳ چشم به جهان گشود ، بتاريخ ۱۵ر۷ر۱۳٦۹ توسط ميني که خلقي هاوپرچمي درکوه هوفيان شريف کارگذاشته بودند بشهادت رسيد .

يارمحمد مسکونه قريه گونډشينواري سرگروپ جبهه خيبرقاقشال درسال ۱۳٤٤ تولد ودرسال ۱۳٦۹ توسط مين خلقي هاوپرچمي ها باقوماندان الله محمد دريك سنگرشهيدگرديد .

گلاجان ولدنبي جان مسکونه قريه صوفي خيل دره شينواري سرگروپ جبهه خيبرقاقشال درسال ۱۳٥٤ چشم به جهان گشوددرسال ۱۳۷۲ توسط مزدوران خلق وپرچم جام شهادت رانوشيد .

محمدرسول ولد پيروزخان مسکونه قريه قاقشال ولسوالي شينواري غوربند ولايت پروان سرگروپ جبهه خيبر قاقشال درسال ۱۳۳۳ تولد ودرسال ۱۳۷۲ دريك مين دشمن باگلاجان يکجاشهيدگرديدند .

ضابط محمدعلم ولدابوالمعجن مسکونه قريه قاقشال دره شينواري سرگروپ جبهه خيبرقاقشال درسال ۱۳٤۰ چشم به جهان گشودو درسال ۱۳۷۱ جام شهادت رانوشيد .

سيدميرولد نبي جان مسکونه قريه صوفي خيل دره شينواري قوماندان نظامي جبهه خيبرقاقشال درسال ۱۳۳۳ چشم به جهان گشود ودرسال ۱۳۷۲ دراثرتعرض مزدوران خودفروخته کمونست جام شهادت رانوشيد .

ضابط فضل محمد ولددين محمدمسکونه قريه قاقشال دره شينواري قوماندان نظامي جبهه خيبرقاقشال وپارسا درسال ۱۳٤۵ چشم به جهان گشودو بتاريخ ۳۱ ر٤ر۱۳۷۲ دراثناي تعرض مزدوران وطن فروش جام شهادت رانوشيد .

روح شان شادويادشان گرامي باد

بقيه نامه ها

جفا ده اوچاچي له دي ملت سره جفا کړي انجام بي له هيجا پټ نه دي.

مونږ هم دجلال آباد دجهادي شورا دهغه نيك اقدام ستاينه کووچي داسلام ضدفعاليتونه اواشخاص بي په ډيره هوښياري اوبيړه په نطفه کي ختني کړل اوبدي برخه کي ورته دلازيات توفيق اوبرياليتوب غوښتنه کوو.

دتفسيرمينه والو ته زيري

دعزيزالتفاسيرپه نوم دمولوي سلطان عزيز ليکلي تفسيردتفسيرپه ميدان کي يوه په زړه پوري اضافه ده ، دغه تفسيرچي په خوږه پښتو ليکل شوي دی ،دلږي بيي په مقابل کي دعلوم القرآن والحديث اومکتب امداديه محله جنگي پشاور څخه ترلاسه کولاي شي.

موندل شوي ده

څه موده مخکي د جلال آباد ښاردکابل په اډه کښي سيدحبيب اروال يوه غوټه پيداکړي ده چي يوه اندازه قيمتي ټکران اونورشيان پکي دي که دهرچاوي لطفاً دي په لاندي آدرس مراجعه وکړي .
پته :پشاور راحت آباد .امان کالوني دمياسيدحبيب اروال کور.
تليفون نمبر ۸٤۰۲۱٦ ميااروال .

بقيهٔ مردم چه ميگويند

همه يکسان نيستند دربين آنهاافراد باشخصيت وافراديکه سرشت نيك دارند بسيارپيداميشوند، لذاکارداعيانه ايجاب ميکندکه همه راتحت يك رديف قرارندهيم وباهرکس قرا خورحال واحوال آن تعامل نمائيم .

مشکلات زنان درسالهاي اول هجرت وقبل ازسرنگوني رژيم درآنجاکه به اختناق وضديت با بيرون رفتن زن ازمنزل منجرميشدبيشترناشي ازيك سلسله بي خبري ونارسايي هابود. بيشترافراد وحلقه ها رسوم وسليقه واحياناً عقده هاوخيالهاي خودشانرا درمورد زنان تحت نام اسلام به پيش ميبردند. درپهلوي آنهادستگاه هاي ضداسلامي نيز بايك سلسله حرکات تهديدکن وغيرانساني که ظاهراً بنام مجاهدين انجام ميدهند وميدادند، ميخواستند جهاداسلامي را بدنام بسازند وآنهارا مخالف دسترسي زنان به حقوق ووجايب اسلامي شان معرفي نمايند .

تاآنجاکه بحزب اسلامي مربوط بوده چه دردوران جهادوچه قبل ازآن، حتي درزمانيکه کارمبارزهٔ اسلامي بيشتربه شکل خياباني ودانشگاهي محدود ميشد، حزب اسلامي تحت روشني اصول اسلامي تاکيد قاطع برحضوروفعال زن درحيات سياسي واجتماعي جامعه دارد، بخاطرهمين موضعگيري بوده که هزاران زن تحصيلکرده ومسلمان درنهضت اسلامي سهم گرفتند وعزايم واهداف کفاررا درقبال زن افغان خنثي نمودند .

خداوند زنان ومردان ماراتوفيق دهدکه مهارتهاي دعوتي خودرابالاببرند وخودشان درجامعه الگوونمونه قراربگيرند که دربنصورت ان شاء الله همه بطرف حق راغب خواهندشد . موفق باشد.

خوازه ترخه

ددي ملك ليونيان نسبت هوښيارانوته ډيربا انصافه دي

محمدرحيم «خنجر»

که سړي سه خبرشي نوددنيا ژوند په حقيقت کي يولوي کشمکش دي دارهټ دمنگوني مثال لري هسي يري ځان ستري کول ندي پکارفقط او فقط دومره څه کول په کاردي چي سړي بي پردي نشي . نور دشمارشپي دي دهرسړي کده روانه ده دچاوړاندي اودچاوروسته .

خوبه حقيقت کي ميړني هغه څوك دي چي دخپل ژوند پنځه شپي بي هسي سباکړي چي نه بي دچادزړپرواوکړه اونه بي دچادزور .

دژوند خوږوالي اوتريخوالي هماغه يوه لحظه وي کوم وخت چي ستاپه خوله کي وي څوکله چي له ستوني وراتيرشو نوبيا دخوږوالي اوتريخوالي ارزښت پوشانته وي. ليکن دژوندڅخه للت يوي طبقي ترلاسه کړي چي هغوي ته خلك ليونيان وايي .

خوورځي دمخه دننگرهار ددولتي مطبعي له رياست څخه دښارپه لورروان وم دوه تنه نورملگري هم راسره وه دسيکانودرمسال ته نژدي دري تنه نوردوستان په مخه راغلل دسرك په يوه خواکي ودريدو دعليك سليك نه وروسته مورشپږتنه يوځاي ولاړوو چي يوشيك ليوني راغي زماله ټولو ملگرونه راتيرشو اوماته بي دستري مشي په وخت کي لاس راکړ اوپه ډيره کلکه بي راته وويل، وروره امره کوه داتسن درته ودروم اوکه په ريکشاکي ځي ماورته په خواب کي وويل تشکرهيڅ شي ته ضرورت نشته هغه بيا په خواب کي وويل : نه چي په هريوه کي ځي نوچي هغه درته راوگرځوم مابياورته دپخواپه شان خواب ورکړليوني پخپله مخه ولاړ . زماملگري حيران وو چي دايي څومره نژدي دوست و پدي وخت کي ماله خپلوملگرونه پوښتنه وکړه تاسو داسړي وپيژاند؟ هغوي وويل نه مابه خواب کي وويل داليوني ؤ ، هغه ليوني چي خلك بي بي وقوف بولي هغوي وخندل اوويي ويل : ليوني اودومره انصاف .

بياله هغه ځايه دچکتوريوپه لوروخوځيدوکله چي دلغمان پخواني اډي ته ورسيدو نوديوه موټرپه خواپوري موټران ونښلو. موټرمخ په چکتوريوحرکت وکړ . زيبا هوټل ته نارسيدلي يوټويك والا په سرك ولاړو زموږموټرته بي لاس ورکړ موټروان موټرودرواه ټويك والا غږ کړ شابس راکوزشي زموږموټرسلف نه وهي دابه ټيله کړي موږبول ته سره وکتل اوهيچاسره ددي توان نه وچي داموټرټيله کړي ليکن ټويك والا شيبه په شيبه دااصرارکاوه شابس موټرټيله کړي ،پدي وخت کي يو ټويك والا زموږترخنگ ناست و هغه وويل : نه چي کاره بي چي پرموږموټرټيله کوي هغه وويل: شابس خبري مه کوه راکوزشي موټرټيله کړ پدي شيبه کي يوخوك دموټرټيله کړي موټرټيله کړي والا خواته ورنژدي شو زمايه غالب گومان چي په غوږکي بي ورته وويل: داخوك چي موټرنه ټيله کوي داهم لکه چي سلاح لري موټرټيله کړي والاداخبره واوريده نوزموږدريورته بي دتللواجازه ورکړه .

پدي وخت کي ماله ځانه سره وويل دليوني هغه انسانيت اودهوښيارانودغه نه سړيتوب نه ليونيان دچاعزت ته په سپکه گوري، په لاره کې پاتك نه لري، دچادموټرواو سرايونوپروانه ورځي. په چاموټر نه ټيله کوي، دچاوينه نه توبوي په همدي ليونتوب کي بي هم ځان له حراموڅخه ساتلي وي چي نن بي وخوره دسباورحي غم ورسره نه وي .

خپل تقدير برحق گڼي ، داواقعاً باضميره خلك دي خوموږ ورته ليونيان وايو . زه دليوني او موټرټيله کړي والا په چورت کي ډوب تللي وم چي زمايوه ملگري راباندي غږوکړه پلاني صاحب ! ددي ملك ليونيان نسبت هوښيارانوته ډيرباانصافه دي .

يکتن ازاعضاي کميته اجرائيه سازمان آزادي بخش فلسطين استعفا داد

بيت المقدس – ۳۱ اسد :

شفيق الاجرح يکي ازاعضاي بلندپايه کميته اجرائيه سازمان آزادي بخش فلسطين استعفاداده است .

واين دومين استعفا درکميته اجرائي ظرف چند روزگذشته است .

شفيق الاجرح نماينده سازمان آزاديبخش فلسطين درلبنان ميگويد که وي به اين علت استعفاداده که بارهبري سازمان درمورد سياست اين سازمان درمذاکرات صلح شرق ميانه ونيز مسايل مالي اين سازمان اختلاف نظرداشته است . وي شوراي ملي فلسطين را به اجلاس فوري فراخوانده تابه گفته اوبه بحران مالي وسياسي سازمان رسيدگي کند .

محموددرويش شاعرفلسطيني روزجمعه گذشته ازکميته اجرائي سازمان آزادي بخش فلسطين کناره گيري نموده بود.

##

ځني عناصر له هرفرصت نه په استفادي سره هڅه کوي چي اختلافات راپيداکړي

دافغانستان داسلامي دولت ...

په باب خپلو مسؤليتونو ته متوجه کړي.

خبر ځاي زياتوي چي محترم حکمتيار وويل چي مسلماني ميرمني په يوه اسلامي ټولنه کي زيات حقوق لري اوهرڅوك مکلف دي چي هغوي ته خپل شرعي حقوق وسپاري .

وروورحکمتيار زياته کړه مونږ هڅه کوو چي داسلام په رڼاکي ښځي تعليم وکړي ، د ټولني دغه لږ قشرچي دتعليم څخه بي برخي پاتي شوي دعلم په نورمتورشي ترڅو افغاني ټولني ته صالح اولاد اومسلمان زامن وړاندي کړي.

ده وويل چي مونږ له ټولو اسلامي خويندو څخه هيله کوو چي زمونږ له اسلامي دولت سره پوره مرسته وکړي.

شهادت

دعظمي صدارت لومړي مرستيال ورور قطب الدين هلال دعظمي صدارت په ماڼۍ کې دنړيوال سره صليب له آمر سره وکتل

کابل دوږي ۲ مه .
دعظمي صدارت لومړي مرستيال محترم انجنير قطب الدين هلال پرون له غرمي مخکې دعظمي صدارت په ماڼۍ کې دافغانستان لپاره دسره صليب دنړيو الي کميټي دنمايندگي له آمر سره وکتل.
دعظمي صدارت څخه دشهادت خبريال خبرراکوي چي پدي کتنه کي دافغانستان لپاره دسره صليب دنړيوالي کميټي دنمايندگي امر په افغانستان کي دسره صليب دنړيوالي کميټي دروغتيا يي مرستو په باب خبري وکړي اودکندوز په ولايت کي يي ددغي کميټي دروغتيايي کلينك فعاليت قناعت بښونکي وباله .

دشهيدانجنيرشاه محمود دشهادت لومړي تلين په مناسبت

(۷)مخ

دجاپان صدراعظم په دوهمي نړيوالي جګړي کي په خپلواعمالو پښيماني څرګنده کړه

توکيو : دوږي (۲) مه .
دجاپانوي صدراعظم په دوهمه نړيواله جګړه کي دجاپان په تيري کوونکو اعمالو باندي پښيماني څرګنده کړي ده .
نوموړي پارلمان ته په خپله وينا کي څرګند ه کړه او وي ويل داچي جاپان نن دنړي په چارو کي دلازيات رول لوبولو لپاره تياري نيسي په همدي وخت کي پکار دي چي دجاپان پدي تجاوز کارانه کړو وړو باندي ژوره خواشيني اومايوسي څرګنده شي ده وويل چي دجاپان تيري کونکواعمالو ترټولو زيات خفګانونه په خپلو ګاونډيانو باندي اړولي وو.

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم محترم حکمتيار دافغاني ميرمنو له يوه هيئت سره وکتل

پيښور دوږي ۲
دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورور حکمتيار وړمه ورځ په پيښورکي دافغاني ميرمنو له يوه هيئت سره وکتل . دغه هيئات دښځوديوه سازمان دمشري فاطمه ګيلاني په مشري په افغاني ټولنه کي دښځو دستونزو اوپه روانو حالاتو اودانقلاب په اوږدوکي دښځو درول په اړوند دهيواد له صدراعظم سره تفصيلي خبري وکړي.
خبرځاي ليکي چي ورور حکمتيار نوموړو ميرمنو ته دمسلمانو ښځو داسلام دمبين دين په رڼاکي دحقوقو وروکولو په هکله هراړخيزي خبري وکړي اوهغوي يي داسلامي حکومت
(۷)مخ

په کابل کی دمتخاصمو ډلو له خواتياری داحتياطي تدابيروشکل لري

استادسياف

کابل بي بي سي
دافغانستان داتحاد اسلامي مشر محترم عبدالرب رسول "سياف " تيره شپه دافغانستان دروانو حالاتو په باب دبي بي سي خبريال سره دبوي مرکي په ترڅ کي وويل .زما په عقيده اوس دجنګ احتمالات ډيرکم شوي .کوم ورونه چي دسولي په پروسه کي لګيا دي ،زه دهغوي کارډير موفق اومثمربولم اوموږ پدي کارکي اوس هم لګيا يو اوزموږ ستر هدف اولوړمقصد ددي تلاښونو اوکوښښونو ترشادادي چي اختلافات رفع شي . دجنګ احتمالات بالکل ختم شي اودغه جهادي قوتونه دوروڼو په شان دجهاد دمقاصدو دتحقق اودسولي په لارکي اودافغانستان دبياودانولو په ارتباط په ګډه اوپه صميميت سره کاروکړي.
ده په کابل کي داحتمالي جګړي درامنځ ته کيدو په باب وويل زه فکرکوم کوم تياري چي نيول کيږي احتمالاً دخپلواحتياطي تدابيروشکل لري نه ددي لپاره چي يودبل سره دحملو قصد ياتصميم ولري .
څکه لکه مخکي چي ماوويل دلته يوتعداد زيات ورونه پدي کارکي
(۷)مخ

وضع صحي بشيراحمدشاه رهبرمجاهدين کشمير درزندان جموو وخيم است

جمووکشمير ۲ سنبله.
وضع صحي بشير احمدشاه رهبر ممتاز مجاهدين کشميري که ازمدت طولاني درزندان جهنمي هندوها درجمو بسرمي برد وخيم گزارش داده شده است.
يك تن ازنزديكان موصوف به نقل ازداکترمعالج مي گويد :
که به نسبت نبودن ادويه جهت تداوي بشيراحمد شاه درزندان جمو وضع صحي وي نهايت وخيم است،وي گفته است که بشيراحمدشاه به مرض خون بيني دچار مي باشد،ازطرف مقامات هندي نيز کدام توجه صورت نگرفته حتي حقوقا نسا ني را درزندان ها پامال نموده اند.

دبوسنيا په جنوبي مستار ښارکی په تيرودريومياشتوکي "۱۰۰۷" تنه بي دفاع مسلمانان په شهادت رسيدلي

سرايوو دوږي ۲ مه
دبوسنيا هرزګوونيا په جنوب مستار ښارکي چي ټول خلك يي مسلمانان دي دتيرو دريو مياشتو په اوږدو کي (۱۰۰۷) کسه شهيدان او (٤٥٨) کسه ژوبل شوي دي ،
دسرايوودراديو له قوله ويل کيږي چي نوموړي خلك دکرواتانو له لوري چي په نوموړي ښاريي ټولي لاري بندي کړي دي دسپکووسلو په وړو شهيدان اوژوبل شوي دي.

حيدرعليوف ازفراررهبرجنبش جدايي طلبان جنوب آذربايجان به مرزهاي ايران سخن گفت

۲ سنبله .
حيدرعلي اوف کفيل رياست جمهوري آذربايجان گفته است که رهبر جنبش جدايي طلبان جنوب آلجمهوري درکنار مرزهاي ايران گريخته است.
طبق گزارش راديو بي بي سي : آغاي علي اوف گفت " علي اکرم همتوف " خود رادرجنگل هاي اطراف شهر نيکران مخفي کرده است.
کفيل رئيس جمهوري آذربايجان
ص (۷)

يك مخالف حكومت كورياى شمالی مقامات آنکشور را به اعدام ده صاحب منصب متهم کرد

سيول ۲ سنبله .
يك مخالف حكومت كورياي شمالي که به کورياي جنوبي فرارکرده است مي گويد :
حکومت يونگ يانگ ده تن ازصاحب منصبان ارشد نظامي آنکشور را به الزام توطيه براي برانداختن سيونگ يانگ از اريکه قدرت اعدام کرده است.
طبق گزارش : فراري يي موصوف که سي سال عمردارد به روز سه شنبه طي کنفرانس خبري يي درسيول که از طرف حکومت کورياي جنوبي ترتيب يافته بود درارابطه به وضع کورياي شمالي به خبرنگاران گزارش داد .
#####

اعلان

کورس انگليسي امريکن سنترکه مجهزبه سيستم سمعي وبصري بوده وتوسط استادان مجرب وورزيده تدريس مي گردد . براي دوره‌ٔ هجدهم خويش ازصنف بيگنر الي ادوانس دوم شاگردمي پذيرد .
ايام تدريس : هفته‌ٔ (٦) روز
وقت : روزانه يکنيم ساعت
مدت سمستر: دونيم ماه
وقت داخله : همه روز ازساعت (۱) الي (۸) شام .
تاريخ داخله : از (۱۹) اگست تا(۳۰) اگست
آدرس : صدر - تهانه‌ٔ غربي، گلبرگ نمبر(۱) کورس انگليسي امريکن سنتر
(۲-۳)

قابل توجه علاقمندان کتاب

بنگاه نشراتي شهادت کتب ذيل راجديداً چاپ ونشرنموده است :
۱- عقيده ما — تأليف دارالافتاي حزب اسلامي
۲- تګلاره — تأليف « حکمتيار »
۳- استادخبري کوي — تأليف « اداره راديو »
٤- ويژگي هاي تشکل اسلامي — تأليف « اعزامي »
٥- حقوق سياسي زن — تأليف « «
علاقمندان مي توانند کتب فوق الذکررا ازغرفه هاي توزيع روزنامه شهادت دربدل قيمت مناسب بدست بياورند .

رئيس جمهور روسيه بارهبرجدايي خواه ابقازي ملاقات کرد

مسکو۲ سنبله .
يلتسن رئيس جمهور روسيه به روز سه شنبه بارهبر جدايي خواه ابقازي درمسکوگفتگو کرد. راديو ايران به نقل ازخبرگزاري يونائيدپريس گزارش مي دهدکه اين ملاقات براي ميانجيگري مسکودرحل بحران منطقه ابقازي صورت گرفته است.
يلتسن روز گذشته با"شواردنادزه " رئيس شوراي ملي گرجستان درزمينه درگيري ها درمنطقهٔ ابقازگفتگوکرده بود.

دنيکاراګوا حکومت ديرغمالودنيولو بحران ختمول غواړي

دوږي ۲ نيټه .
دنيکاراګوا حکومت څوساعته وروسته له هغي چي دکانتراپخوانيو باغيانو د ۳۷ عسکرونه (۲۰) کسه چي دپنجشنبي دورځي راهسي يي نيولي وو . ورخوشي کړل دملك ديرغمالوددغه بحران دي ژرختمولو خواست کړي دي.
ديکشنبي په ورځ دکانترا پخوانيو باغيانو دماناګوانه دليرل شوي هيئت سره دخبرو نه وروسته په شمالي ښارسولامبي کي (۳) حکومتي مامورين او (۱۷) کسه عسکر خوشي کړل.

صدراعظم کشورنيپال عازم پاکستان گرديد

اسلام آباد اول سنبله
"گري جابرشادکويي والا" صدراعظم دولت نيپال شب دوشنبه طي يك سفرخصوصي عازم کراچي شده ،صبح روز سه شنبه وارد اسلام آباد گرديد.
طبق گزارش نخست وزير موصوف تصميمدارد تادردوران اقامتش درپاکستان باوسيم سجاد ومعين قريشي رئيس جمهور وصدراعظم مؤقت دولت پاکستان ملاقات نمايد.

انفجاربمبي درتهران‌چهارزخمي بجاگذاشت

تهران اول سنبله .
به اساس خبر منتشره روزنامه جنگ چاپ پاکستان انفجاربمبي درتهران چهارزخمي بجاگذاشت.
طبق خبر: صبح روز دوشنبه گذشته درشهرتهران‌مرکز جمهوري اسلامي ايران بمبي قبلاً تعبيه شده منفجرگرديد .که برعلاوه زخمي شدن چهارنفربه تعداد ي از موترها و عمارات چهاراطرافش نيز خسارات واردگرديد.
اينکه چه کسي مسؤل انفجار اين بمب بوده تاهنوز روشن نشده است.

ايران عراق : خپل يوه ديپلومات په وهلو تورن کړ

تهران دوږي ۲
ايران دعراق په امنيتي قواوو باندي تورلګولي دي چي دجمعي په ورځ يي په بغداد کي يوايراني ديپلومات دير سخت وهلي دي .
دايران خبري آژانس وويل په بغداد کي دايران دقونسلګري ددوهم سکرتر چپه سترګه ټپي شوي ده.
ايران ويلي نوموړي ديپلومات ديکشنبي په ورځ بيرته تهران ته ستون شوي.

مسلمانان بريتانيه درشهرهاي بزرگ آنکشورمکاتب اسلامي راتاسيس مي کنند

لندن : ۲ سنبله .
گروپ هاي مختلف مسلمانان دربريتانيه تصميمدارند تادرتمام شهرهاي آنکشور مکاتب اسلامي راتاسيس نمايند.
طبق گزارش اخبارخليج اين‌اقدام زماني صورت گرفت که دولت انگلستان ازتاديه مصارف تاسيس يك باب مکتب درشمال لندن اباورزيد.
توقع مي رودکه درماه آينده درتمام شهرهاي بزرگ بريتانيه مکاتب اسلامي تاسيس واقدام مسلمانان جامه عمل بپوشد.

دهند د راجستان په ولايت کي (۱۹) کسه دشرابو دڅښلو له امله مړه شول

نوي ډيلي د دوږي ۲ مه
دهند د راجستان په ايالت کي (۱۹) کسه په کورکي دجوړوشويو شرابو دڅښلو په وجه مړه شوي دي .
پريس تريس آف انديا وايي چي په دوي کي (۱٤) کسه دشنبي په ورځ سمدستي دشرابو دڅښلوسره مړه شول او(٦) نوردددوشنبي په ورځ مړه شوي دي.
مقاماتودفتح پوردښارپه شاوخوا کي سيمه کي دشرابوټول دوکانونه تړلي په منع پورکي (۷۰) کسه دشرابو د څښلو له امله له خپل حالت څخه بل حالت ته اوښتي وو.

مژده به ساکنين ولايات ننگرهار

شفاخانه فاطمه الزهرا پولي کلينك (O.P.D)خود را انشا ءالله به تاريخ ٦ر۳ر۱٤۱٤ هـ ق موافق به ۲ر٦ر۱۳۷۲ ه ش افتتاح ميکند ، بخش مذکورجهت تداوي طبقه اناث واطفال تخصيص داده شده است.
اين شفاخانه باداشتن تمام امکانات دست داشته اش درخدمت مردم ميباشد . تداوي ، معاينات (لابراتوار،اکسري) وتوصيه توزيع ادويه ،همه رايگان ميباشد.
درصورت نبودن امکانات تداوي مريض ها درين شفاخانه مريض جهت تداوي به پشاورطبق لزوم ديدانتقال خواهد يافت.
اداره شفاخانه .

فرمان الهي

به تحقيق که سابقاً صادرشدوعده مابراي بندگان فرستاده ما ،يقيناً پيامبران ايشان اند نصرت داده شدگان و يقيناً لشکرماهمانست غلبه يابندگان .
(الصٰفٰت ۱۷۰- ۱۷۲)

ارشاد نبوي

ابوهريره (رض) روايت نموده گفت: اعرابي اي درمسجد بول نمود ، مردم برخاستند تااورابزنند.
پيامبر(ص) فرمودند :
اورابگذاريدوبربول او دلوي ازآب بريزيد زيراشماآسانگيربرانگيخته شده ايد وبراي سختگيري برانگيخته نشده ايد.
(رواه البخاري)

بقيهٔ سرمقاله

دروغبافي و ارايه تحليل هاي ناسره و بيمار گونه باکي ندارند.
برادرحکمتيار درمسافرت اخير خويش بادول همسايه درقدم اول روي پروژه هاي بازسازي افغانستان ويران صحبت هاي مفصل نمود وتوافق آن کشور هارادرامر سهمگيري ايشان درين امر مهم وسازنده کسب کرد . ترميم وتمديد شاهراه ها وراههاي مواصلاتي اهم، ترميم وکاراندازي شبکه هاي توليد برق وانرژي ، راه اندازي پروژه هاي زراعت وصنايع واحياي سيستم آبياري مدرن،انکشاف تجارت باکشورهاي همسايه ازطريق تمديد راه بين المللي ترانزيت تاشکند- کابل - کراچي وهمچنان راه ترانزيت تاشکند- کابل -بندرعباس ،قرارداد هاي آموزش تعليمات عالي براي جوانان وامضاي توافقنامه عودت آبرومندانه مهاجرين به کشور ،ازجمله دست آورد مهم سفربرادرحکمتيار به کشور هاي دوست به شمارميرود..
درتوافقاتي که ميان افغانستان ،پاکستان وملل متحد دراسلام آباد وافغانستان ،ايران وملل متحد درتهران به امضا رسيد ،کشورهاي ميزبان وملل متحد متعهد گرديدند که تمام تسهيلات سفر،مصارف حمل ونقل اموال و شرايط زندگي رابخاطرعودت مهاجرين درافغانستان مساعد سازند.
گرچه بعضي حلقه ها اظهارنگراني نمودند که بنابر عدم شرايط مساعد امنيتي ،عودت مهاجرين بکشور مشکل است ، ولي درتوافقات فيمابين افغانستان ، کشورهاي همسايه وملل متحد روي اين نکته تاکيد گرديده است که بازگشت مهاجرين جبري نبوده ، آنها بطورداوطلبانه ،رضاکارانه و تدريجي به کشور باز خواهند گشت .
همچنان محترم صدراعظم کشورطي سفراخيرخويش به دول همسايه وبرادر اين مطلب را وضاحت نموده که يگانه راه حل بحران سياسي کشور برگزاري انتخابات عمومي مطابق موعد معينه اي است که درمعاهده جلال آباد روي آن توافق ميان تمام احزاب صورت گرفته است . سران دول متحابه حين ملاقات بابرادرحکمتيار ازطرح برگزاري انتخابات براي حل معضله جانبداري نموده ومتعهدشده اند که تمام مساعي خويش را بکارخواهند برد تا جناحهاي مختلف افغان به اين فورموله عمل نمايند.
مسافرت برادرحکمتيار براي تمثيل سياست خارجي فعال ،مثبت ومبتني به اصول اسلامي دولت اسلامي ،درنوع خود اولين سفري است که مباني سياست خارجي حکومت اسلامي رادر موردرابطه افغانستان با دنياي خارج ثبت نموده وان شا ءالله بانشاندهي شدن اين خطوط ودساتيردست اندکاران وزارت امورخارجه ونمايندگي هاي سياسي افغانستان درخارج به تاسي ازآدياب جديدي را دربخش تمثيل سياست خارجي دولت نوپاي اسلامي افغانسان با دنياي خارج خواهند گشود.

مولوي امان الله به لقاءالله پيوست

جناب مولوي امان الله فرزند مولوي محمددين (۲۹) سال قبل دريك خاندان متدين ودين دوست درقريه دمريرك ولسوالي ،روحي روآب ولايت سمنگان ديده به جهان گشود . همزمان با تجاوز وحشيانه روسها تحصيلات خود را ناتمام گذاشته به صفوف برادران مجاهدش پيوست . متعاقباً به صفت مسؤل فرهنگي تحت سرپرستي قوماندان قاضي غلام سخي برگزيده شد ،مرحوم مولوي امان الله درسال (۱۳٦٥) به خاطر ادامه تحصيلات خود عازم پاکستان گرديد وتحصيلات خود را دردارالعلوم حقانيه اکوري ختك به پايه اکمال رسانيده داخل سنگرهاي گرم جهاد گرديد . وي در" دارالعلوم نعمانيه" مريرك به صفت استاذ وعضو شوراي علما مشغول خدمت بود. سرانجام به تاريخ(۸) اسد سال جاري ،به اثر مريضي که عايد حالش گرديده بود ،بادوستان خود وداع وبه لقا ءالله پيوست .

شهادت
بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنيرحکمتيار
ناشر : رياست ارشادوفرهنگ
تحت نظرهيئت تحرير
پست بکس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکنوري
حساب بانکي: ۸٥۲٦٤ دافغانستان بانك
تيلفون : ۲۹۲٦